# ستوري

نوی پیل، ٦مه او ٧مه ځانګړې ګڼه، ۱۴۰۴ - ۲۰۲۵

د افغانستان اسلامي امارت
د بهرنیو چارو وزارت

د افغانستان اسلامي امارت بهرنۍ سیاست
**اسلام اصله | متوازن | اقتصاد محوره**

- د اسلامي همکاریو سازمان د بهرنیو چارو وزیرانو ۵۱ ناستې ته د بهرنیو چارو وزیر وینا
- بیانیه امارت اسلامی افغانستان در نشست «گفتگوی ترمذ»
- د نبوي دولت سیاست او ډیپلوماسي



# ستوري

نوی پیل، ٦مه او ٧مه څانګړې ګڼه، ۱۴۰۴ - ۲۰۲۵

د افغانستان اسلامي امارت

د بهرنيو چارو وزارت


**د امتیاز خاوند**

د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت

**مسوول مدير**

حافظ ضیاء احمد «تکل» د ویاند دفتر او عامه اړيکو رييس

**د کتنپلاوي مشر**

دکتور عبدالجبار بهیر، د ویاند دفتر او عامه اړيکو رياست د نشراتو مرستيال

**کتنپلاوی**

دکتور عبدالجبار بهیر، مفتي نور الله عزام، عبدالرشید صافی، عبدالبصیر معروف، محمد ادریس نبیل او ادریس رحمتي.

**سکښتنه او اوډنه**

عبدالستار اکبری



+۹۳ (۰) ۲۰ ۲۱۰ ۰۳۸۱

publications@mfa.gov.af

mfa.gov.af

@mofa.afg

ملک اصغر څلور لارې، کابل ـ افغانستان


**يادونه**

د مجلې اداره د لیکنو په سمون او اوډون کې واک لري.

د **ستوري** مجلې اداره د لیکوالانو د سیاسي، اقتصادي، کلتوري او ټولنیزو لیکنو هرکلی کوي.

د **ستوري** مجلې د حقونو ټول واک د بهرنيو چارو وزارت د ویاند دفتر او عامه اړيکو له ریاست سره دی. د سرچینې په یادولو سره، د مجلې د لیکنو او محتوا اخیستنه اجازه لري.

هغه لیکنې چې د لیکوال نوم ورسره یاد شوی وي، د بهرنیو چارو وزارت د سیاسي اندونو استازیتوب نه کوي.

**سرليکونه**


۱. پیلیزه ........................................ ۲

۲. د مسکو فارمټ په اوومه غونډه کې د ا.ا.ا د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي مولوي امیر خان متقي وینا ........ ٤

۳. سخنرانی محترم داکتر محمد نعیم، معین وزارت امور خارجهٔ ا.ا.ا. در کنفرانس «صلح، دوستی و رفاه» ........ ۸

٤. په هېواد کې د زلزلې د زیانونو په اړه ... غونډې ته د بهرنیو چارو وزیر د وینا متن ........ ۱۰

٥. سخنرانی محترم مولوی امیر خان متقی وزیر امور خارجهٔ ا.ا.ا. در ششمین نشست فارمت مشورتی مسکو ........ ۱۳

٦. گسترش روز افزون تعاملات و تحکیم روابط امارت اسلامی با جهان ........ ۱٦

۷. د نبوي دولت سیاست او ډیپلوماسي ........ ۲٥

۸. سفیر در اسلام و نقش آن در دیپلماسی اسلامی ........ ۳۳

۹. د بهرنیو چارو وزارت د ایکس رسنۍ راپور ........ ۳۷

۱۰. Speech of HE FM of IEA Mawlawi Amir Khan Muttaqi at the 50th Session of the OIC CFM ........ ۱

۱۱. Speech by HE FM of IEA Mawlawi Amir Khan Muttaqi at the 51st OIC Ministerial Meeting ........ ٤

# پېلیزه

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

د ستوري مجلې ٦مه او ٧مه ځانګړې ګڼه، پر هېواد د اسلامي امارت حاکمیت د څلورو کلونو له بشپړېدو سره سم په داسې حال کې خپرېږي، چې پر ټول هېواد د اسلامي واکمنۍ سیوری خپور دی، د ولس هوسواینه او رښتوني خدمت ته واکمن او چارواکي په ټول جدیت ملا تړلې، په هېواد کې سراسري بشپړ امنیت تر بل هر وخت ټینګ او حاکم دی او له دې ټولو الهي لورېینو سربېره په نړیوال ستیج ورځ تر بلې د هېواد سیاسي، اقتصادي او سوداګریزو تعاملاتو ساحه له سیمې او ګاونډیو هېوادونو، اروپا او نړۍ ته په غځېدو او پراخېدو ده.

د افغانستان اسلامي امارت بهرنیو چارو وزارت د معتدلې، هڅاندې؛ خو ارامې ډیپلوماسۍ په پایله کې د ګاونډیو هېوادونو سربېره په سیمه او نړۍ کې هم د افغانستان ډېری سیاسي او قونسلي استازولۍ د اسلامي نظام تر چتر او مدیریت لاندې راغلې، ان ځینې اروپایي هېوادونه د افغانستان د واقعیتونو د درک په پایله کې مثبت تعامل ته راوړاندې شوي دي. په ناروې او المان کې د افغانستان څلور سیاسي او قونسلي استازولیو ته د اسلامي امارت نوي لوړ پوړي ډیپلوماټان معرفي او رسېدلي دي، چې له همدې استازولیو په اروپا او امریکا کې مېشتو هېوادوالو او عامو مراجعینو ته قونسلي رغنده خدمتونه لا چټک او ښېرته عادي پیل شوي دي.

په تېرو څلورو کلونو کې له ګاونډیو او سیمه ییزو هېوادونو سره د سیاسي، اقتصادي او سوداګریزو راکړو ورکړو په لړ کې د پام وړ پرمختګونه رامنځته شوي، چې د روسیې له اړخه د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت پېژندنه او د یو شمېر نورو هېوادونو له اړخه د افغانستان د سفیرانو او فوق العاده استازو رسمي منل د ډیپلوماتیک تعامل د پیاوړتیا څرګنده بېلګه ده.

په نړیواله کچه د افغانستان اسلامي امارت تر چتر لاندې د هېواد د روان واقعیت درک د سیاسي، امنیتي او ټولنیزو لاسته راوړنو هغه مهمه برخه ده، چې ورځ تر بلې یې په اړه سیمه او نړۍ منښت او اعتراف ته قانع کېږي. د روسیې، قزاقستان او قرغیزستان له اړخه د "طالبانو تحریک" نوم چې په تېرو وختونو کې د اسلامي امارت نوم و، د ممنوعه ډلو له لیکلړ لرې کول، همدا راز د افغانستان اسلامي امارت د کورنیو چارو وزیر په ګډون د یو شمېر نورو امارتي چارواکو نومونه د ملګرو ملتونو او امریکا متحده ایالتونو د جایزو او تورو لېستونو څخه لرې کول په افغانستان کې د اسلامي امارت د واقعیت منلو په برخه کې د نړۍ او سیمې له اړخه د همدې قناعت څرګندې بېلګې بلل کېدلای شي.

په نړیواله کچه د لویو سیاسي، اقتصادي او فرهنګي کانفرانسونو په لړ کې د افغانستان اسلامي امارت چارواکو او استازو ته رسمي بلنې او پکښې د افغانستان مانا داره ګډون د اسلامي امارت سیاسي تعامل

د پراختیا چټک ګامونه ښيي. د کامیرون په پلازمېنه یاونډې کې د اسلامي همکاریو سازمان په ۵۰مه مشریزه او د ترکیې پهپلازمېنه انقره کې د نوموړي سازمان په ۵۱مه مشریزه ناسته کې د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر ته رسمي بلنه او د هغه ګډون، د مسکو فارمټ په مهم سیاسي او امنیتي ډیالوګ کې افغانستان ته رسمي غړیتوب ورکول او په لسګونو نورو فرهنګي او اقتصادي نړیوالو ناستو او فورمونو کې د افغانستان لوړ پوړو چارواکو او استازو ته بلنې او د هغوی ګډون له نړۍ او سیمې سره د افغانستان د رغنده سیاسي تعامل مزل لا پیاوړی کړی دی. افغانستان په نړۍ او سیمه کې، د سیاسي او امنیتي پېښو او کړکیچونو په برخه کې تل د ډیپلوماتیک تفاهم او سوله ییز حل غوښتنه جدي مطرح کړې ده، په ځانګړې توګه د فلسطین په قضیه کې د اسلامي نړۍ د یو رښتوني خواخوږي او په درد یې د دردمن هېواد په توګه د فلسطین د خپلواکۍ او ارضي تمامیت څرګند ملاتړ کړی دی او پر غزه یې د صهیونیستي رژیم تېری او وحشي بمبارونه په زغرده غندلي دي او له دې سربېره یې د نړیوالې ټولنې له اړخه د خپلواک فلسطیني هېواد تاسیس د دې ټولو رامنځ ته شوو ناخوالو او جګړو د پای ته رسېدو اصلي لار بللې ده.

د ا.ا.ا. د بهرنیو چارو وزارت له نړیوالې ټولنې سره د مانا دار نښلون او ښکېلتیا موضوع د هېواد د متوازن بهرني سیاست په لومړیتوب کې ځای ورکړې دی، چې د افغانستان په اړه د ملګرو ملتونو په نړیوالو دوه اړخیزو او څو اړخیزو ناستو په ځانګړې توګه د دوحې پروسې د تخنیکي ناستو په سلسله کې یې دا موضوع په بشپړ قاطعیت څېړلې او د اړوندو مثبتو اقداماتو لپاره یې لار هواره کړې ده.

د بهرنیو چارو وزارت تل هڅه کوي، چې د افغانستان اسلامي امارت د سیاسي لید پر بنسټ د افغانستان د سیاسي او امنیتي ثبات او اقتصادي او سوداګریزو تعاملاتو په برخه کې د سیمې او نړۍ قناعت او په دې برخه کې یې مثبت دریځ رامنځ ته کړي؛ څو د اسلامي امارت د علیا ارزښتونو او د هېوادنۍ خپلواکۍ د درنښت پر بنسټ، افغانستان هم د نړیوالې ټولنې یوه منل شوې فعاله برخه وي.

په دې ګڼه کې به د اسلامي همکاریو سازمان په ۵۰ او ۵۱ مشریزو غونډو کې د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر د وینا سربېره په ازبیکستان کې د ترمذ د خبرو په کانفرانس کې د بهرنیو چارو د معین له اړخه د اسلامي امارت وړاندې شوی دریځ او همدا راز د مسکو په فارمټ کې د لومړي ځل لپاره د افغانستان د رسمي غړیتوب له ادرسه د اسلامي امارت پیغام درنو لوستونکو ته وړاندې کېږي.

له دې سربېره به د ا.ا.ا. د بهرنیو چارو وزارت له اړخه له ګاونډیو او سیمې هېوادونو سربېره له نړۍ سره د افغانستان د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي تعاملاتو او راشه درشه په لړ کې د یو کلنو مهمو لاسته راوړنو مهم خبري غورچاڼ، چې د ایکس رسنۍ له لارې وخت په وخت وړاندې شوی دی، په دې ګڼې کې خپرېږي. همدا راز د سیمې او نړۍ د مهمو سیاسي او امنیتي پېښو په اړه د افغانستان اسلامي امارت دریځ، چې د رسمي اعلامیو او څرګندونو په بڼه وړاندې شوی دی، دلته لوستلای شئ.

والسلام

خپلواک اسلامي افغانستان، دې تل هوسا او ویاړلی وي!

# د مسکو فارمټ په اوومه غونډه کې د ۱.۱.۱.

## د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي مولوي امیر خان متقي وینا

مسکو - روسیه
۷ اکتوبر ۲۰۲۵

بسم الله الرحمن الرحیم

**الحمدلله رب العالمین و الصلاة والسلام علی محمد و علی اله واصحابه اجمعین، وبعد،**
**د روسیې فدراسیون د بهرنیو چارو وزیر ښاغلی سرګي لاوروف،**
**د مسکو فارمټ د اوومې غونډې غړو او مېلمه هېوادونو محترمو استازو،**
**ښاغلو او اغلو!**
**سهار مو پخیر،**

له هر څه وړاندې زه د روسیې فدراسیون له محترم دولت څخه مننه کوم چې په لومړي ځل یې مسکو فارمټ کې افغانستان ته د غړي په حیث بلنه ورکړه. همدارنګه د روسیې فدراسیون حکومت او په مشخص ډول د بهرنیو چارو وزیر، ښاغلي سرګي لاوروف د کوربه‌توب، مېلمه پالنې او ګرم استقبال ځانګړې مننه کوم.

**له دې فرصت څخه په استفادې د روسیې فدراسیون قدرداني کوم چې د یو جرأتمندانه اقدام په ترڅ کې یې د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت وپېژنده. دا یو داسې ګام وو چې زموږ تر منځ یې ښېرازې عملي همکاریو ته لاره پرانیستله.**

تاسې ته مالومه ده؛ چې د مسکو فارمټ کې زموږ تېره ناسته د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر په ۴مه ترسره شوې وه. له هغه وخت راهیسې په سیمه او نړۍ کې د پام وړ بدلونونه راغلي دي، خو له نېکه مرغه د افغانستان او سیمې اړیکې له پخوا لاډېرې قوي او د لاډېر استحکام په لور رواني شوي دي. دا د افغانستان په اړه د بیروني نړۍ د مناسب درک او ښه نیت ښکارندویي کوي.

**قدرمنو حاضرینو!**

مونږ او تاسې په داسې وخت کې سره راټول یو چې په سیمه او نړۍ کې د تغیراتو او تحولاتو څپه روانه ده. زما لپاره تر ټولو ځانګړې او د پام وړ موضوع دا ده؛ چې په داسې وخت کې زمونږ او ستاسې اړیکې د لا ډېر اعتماد او باور په لور رواني دي. زمونږ او ستاسې ننني ناسته ددې یوه ځرګنده نښه ده.

تېرو څه د پاسه څلورو کلونو کې د افغانستان اسلامي امارت حاکمیت د افغانستان په امنیت، بهرني سیاست او اقتصاد په برخه کې بې‌مخینې پرمختګونه کړي دي چې په عمومي توګه یې ټوله نړۍ او په خاصه توګه یې دلته د غړو هیوادونو ناست استازي یې باید له پامه ونه غورځوي.

د افغانستان اسلامي امارت له راتګ سره مونږ ته په امنیتي برخه کې ښېرازې لویې ننګونې په میراث پاتې شوې. داعش، د نشه‌یي

توکو مافیا، د وسلو قاچاق او نور ټول هغه موارد چې زمونږ هېواد یې له سیمې او نړۍ بېگانه کړی وو؛ نن په ډېر ښه ډول مدیریت شوي دي. افغانستان اوس د امنیتي ننگوني پرځای د سیمه‌ییز ثبات شریک او د اقتصادي پرمختگ په فرصت بدل شوی دی.

**درنو حاضرینو!**

له دې فرصت څخه په استفادې غواړم د افغانستان د امنیت موضوع ته ستاسې‌ځانگړې پاملرنه ولرم. لومړی باید دا واضحه وي، چې زمونږ او ستاسې سیمه کې د امنیت موضوع د اسلامي امارت له راتگ سره نه ده راپیدا شوې. بلکې د دې سیمې امنیتي موضوعات تر ځلورو لسیزو زیاته مخینه لري.

تېر شل کاله په افغانستان کې بهرنی حضور او له دې غیر مشروع حضور سره د سیمې د ځینو هېوادونو همکاري د امنیتي ستونزو د جوړېدلو اساسي لامل و. چې له نېکه‌مرغه په تېرو ځلورو کلونو کې د ناامنۍ ټول عوامل په افغانستان کې له منځه تللي، زمونږ نظر دا دی؛ چې له دغه مثبت پرمختگ سره همکاري وشي او لاښه مدیریت شي، ترڅو بیا پخوانۍ تېروتنې تکرار نه شي. زمونږ سیمه باید بیا د تېرو محاسبو او نیمگړو پالیسیو له امله د ناامنۍ قرباني نه شي.

تاسې ته مالومه ده؛ چې څه موده وړاندې د څو هیوادونو گډه اعلامیه خپره شوه چې پکې افغانستان کې د بیلابیلو ډلو د شتون موضوع مطرح شوې وه.

غواړم په ډېر واضح ډول ووایم چې افغانستان کې هیڅ داسې ډله شتون نه لري چې د افغانستان له خاورې په استفادې نورو هیوادونو ته ستونزې جوړې کړي. هیله ده چې له ناامنۍ د ځوریدونکو هېوادونو مسؤلین خپل مسؤلیت په خپله اوږه واخلي.

**زه په ډېر تأسف سره وایم چې ځینې لوري فعاله هڅه کوي چې په تېرو ځلورو کلونو کې د راغلې آرامۍ او امنیت د ستایلو پرځای افغانستان سیمې ته د خطر په حیث معرفي کړي. زه دغه هڅې په کلکو ټکو غندم او له ټولو هیوادونو غواړم چې د افغانستان په قضیه کې د عیني واقعیتونو اوخپلو معلوماتو په رڼا کې مستقل دریځ خپل کړي تر څو وتوانېږو د سیمې مشکلاتو ته عملي او مؤثره تگلاره خپله کړو.**

زمونږ اطلاعات دا دي چې په دې وروستیو کې داعش او ځینو نورو ډلو د سیمې په نورو هیوادونو کې د تجهیز او روزنې مراکز جوړ کړي دي چې د افغانستان حکومت ته د نگرانی او تشویش وړ دي.

همدارنگه په افغانستان کې د مخدره موادو د کښت له بندیدو سره له افغانستان څخه دباندې په بېساري ډول د مخدره موادو کښت، تولید او قاچاق زیات شوی، د سیمې هیوادونه باید په مستقل ډول د یادو موضوعاتو څېړنې او بررسی پیل کړي.

**محترمو حاضرینو!**

په اقتصادي برخه کې غواړم ووایم چې د افغانستان اسلامي امارت په لومړي ځل د ملي پراختیا پنځه کلنه ستراتیژي اعلان کړې چې پلي کېدل به یې د هیواد د تولیدي سکتور، پانگونې، صادراتو او زیربنا د پراختیا له لارې د اقتصاد بنسټونه نور هم پیاوړي کړي.

◄ تېر ځلور کاله زمونږ د اقتصادي ټیکاو په لور مثبت سفر د پام وړ لاسته راوړنې درلودلې دي. زه دلته غواړم ځینو مهمو ته یې ستاسې پام راواړوم؛

**۱- کورنی ناخالص تولید**

د اسلامي امارت په پیل کې زموږ د هېواد ناخالص تولید شاوخوا ۱۴.۴ میلیارده ډالره و؛ اوس دغه کچه ۱۷.۴ میلیارده ډالرو ته رسېدلې ده چې د کلنۍ نږدې ۳٪ فیصده اقتصادي ودې نښه ده او د تولیدي سکتور، کورني بازار او د عوایدو د سیستم د ښه مدیریت اړوند پیاوړتیا څرګندوي.

**۲- د صادراتو پراختیا**

د افغانستان صادرات په تیرو ۴ کلونو کې سالانه له ۷۰۰ میلیونو ډالرو څخه تر ۲ میلیارده ډالرو پورې رسېدلي دي او اوس افغان محصولات د نړۍ ۷۰ هېوادونو ته صادرېږي دا د نړیوالو بازارونو ته د لاسرسي او د خارجي عوایدو د زیاتوالي څرګند ثبوت دی.

**۳- د وارداتو زیاتوالی او د اخیستلو ځواک**

د ۲۰۲۰ کال په پرتله واردات مو هرکال له ٦.۵ میلیارده ډالرو څخه تر ۱۲ میلیارده ډالرو لوړ شوي دا د کورني مصرف او د خلکو د اخیستلو د ځواک د پیاوړتیا نښه ده، چې د اقتصاد د فعالیت او د ژوند د معیار د ښه کېدو شاخصونه دي.

**۴- د بودیجې مالي خپلواکي**

اسلامي امارت اوس ټول دولتي مصارف د داخلي بودیجې له منابعو تمویلوي. په تېره دوره کې هر کال له ۴ تر ٦ میلیارده ډالرو پورې بهرنۍ مرستې د افغانستان د دولت په مصارفو کې شاملې وې؛ اوس مو د مالي استقلال پر لور مهم ګامونه اخیستي دي او کلنۍ عادي او انکشافي بودیجه په مکمل ډول له داخلي عوایدو څخه جوړوو.

**۵- بهرنۍ پانګونه او تعهدات**

په تېرو څلورو کلونو کې مو د ۲۱ میلیارده ډالرو پانګونې ژمنې ترلاسه کړې چې له دې څخه تر اوسه ۷ میلیارده ډالر عملي پانګونې ته راړول شوې؛ دا پانګونې په زیربنا، انرژۍ، کانونو او تولیدي پروژو کې د دوامداره ودې سبب ګرځي.

**٦- د صنعتي تولید پراختیا**

په ۲۰۲۰ کال کې شاوخوا ۳۵۰۰ صنعتي فابریکې په افغانستان کې فعالې وې؛ اوس د فابریکو شمېر له ٦۰۰۰ څخه زیات دی دا د تولیدي سکتور د پراختیا، د کورني تولید د زیاتوالي او د کاري فرصتونو د رامنځته کېدو اساسي شاخص دی.

پورته موارد د افغانستان د اقتصادي ثبات او پرمختګ په اړه زمونږ د تېرو څلورو کلونو د هڅو نتیجه ده. دا د پام وړ پرمختګونه دا په ښه کوي چې افغانستان د بل هر وخت زیات د سرمایه ګزارۍ او پرمختګ لپاره په مناسب وضعیت کې قرار لري خو متأسفانه چې د ځینو هیوادونو او نړیوالو سازمانونو لخوا اقتصادي بندیزونه د افغانستان د اقتصاد د لا ډېر غوړاوي مخه نیولې ده. زمونږ شا او خوا ۹ میلیادره ډالره شتمني اوس هم کنګل ده او د بندیزونو له امله مو د اقتصادي ودې او ازاد رقابت وړتیا اغیزمنه شوې ده. له تاسې مې هیله داده؛ چې په نړیواله ټولنه کې د افغانستان د شتمنۍ د ازادولو او د بندیزونو د لرې کولو په برخه کې خپل مسؤلیت اداء کړئ.

**ښاغلو او اغلو!**

څلور کاله وړاندې مونږ له نړۍ سره د تعامل په برخه کې له صفر پیل وکړ. د نړۍ ټولو هېوادونو ته مو

پیغام ورلاندې کړ، چې مونږ د اقتصاد محوره او متوازن سیاست په رڼا کې غواړو افغانستان د نړیوالې ټولنې برخه وګرځوو. د سیمې هېوادونو زمونږ پیام په مثبت نظر واخیست، چې له امله نن د سیمې له ټولو هیوادونو سره نږدې او دوستانه اړیکې لرو، همدارنګه نور هېوادونه هم دې درک ته رانږدې شوي دي چې د سیاسي تعامل لار له افغانستان سره د اړیکو یواځینی انتخاب دی.

**◂ غواړم یو ځل بیا ووایم چې د افغانستان اسلامي امارت نه یوازې د سیمې له هېوادونو سره، بلکې د نړی له ټولو هېوادونو سره د متقابل درناوي او خپلو ارزښتونو په پام کې نیولو سره ښې اړیکې غواړي.**

مونږ غواړو له ټولو هیوادونو سره په مشترکاتو کار وکړو او د اختلافي مسائلو اړوند ډیالوګ او بحث رامنځته کړو. زمونږ په باور خبرې اترې، ناستې او مثبت تعامل د حل اساسي او د اعتماد سازۍ یواځینۍ لاره ده.

**قدرمنو حاضرینو!**

له دې فرصت څخه په استفادې غواړم څو ځانګړې وړاندیزونه ولرم:

۱- زه له تاسې ټولو هیله لرم چې د افغانستان موضوع ته د ځمکنیو واقعیتو په نظر کې نیولو سره له مستقلې او نسبي زاویې وګورئ. د افغان حکومت هغه هڅې چې د سیمې د امنیت، اقتصاد او سیاسي ثبات په برخه کې یې کړې دي باید له پامه ونه غورځول شي.

۲- دا چې د روسیې فدراسیون له اړخه د اسلامي امارت په رسمیت پیژندل یو مثبت اقدام وو، هیله لرو له دې او ورته فارمټونو څخه په استفادې نور هېوادونه هم له افغانستان سره د عملي همکاریو په لور مثبت ګامونه واخلي.

۳- د اسلامي امارت ټینګه اراده ده؛ چې افغانستان د سیمې د اتصال او اقتصادي پرمختګ د نښلون نکته جوړه کړي. اوس ښه موقع ده؛ چې د ستونزو د شاربلو پر ځای اقتصادي ښکېلتیا ته لومړیتوب ورکړو.

۴- د نشه اي توکو په ضد د مبارزې په برخه کې پکار ده چې ګډه منطقوي همکارې رامنځ ته کړو تر څو وتوانېږو دغه بدمرغه پدیده په ګډه د سیمې له ټولو هیوادونو پاکه کړو. د افغانستان اسلامي امارت په دې برخه کې هرې ممکنې همکارۍ ته تیار دی.

**◂ په پای کې مهمه بولم چې د فلسطین د مظلوم ولس درد یاد کړم. په ډېر تأسف سره حاکم نړیوال نظم د غزې د بې ګناه ماشومانو، ښځو او سپین ګیرو په حق کې د روان ظلم په مخنیوي کې ناکام شوی دی. دې حالت د ملګرو ملتونو په څېر د ټولو نړیوالو ادارو او د بشر د حقوقو فلسفه له لوی سوال سره مخ کړې ده.**

هیله ده چې د خبرو اترو په برخه کې روان پرمختګ په یوې داسې ملموسې نتیجې پای ته ورسېږي چې د فلسطین ولس یکې د خپل برخلیک ټاکلو د آزاد حق تر څنګ آرام ژوند ولري. زه بیا هم د سیمې او نړی هغه لوبغاړي چې کولای شي په غزه کې د روان ظلم او نسل وژنې مخه ونیسي، داسې عملي اقداماتو غوښتنه کوم چې په دې مهمې موضوع کې خپل مسؤلیت اداء کړي.

له توجه څخه مو مننه

# سخنرانی دکتور محمد نعیم، معین وزارت امور خارجۀ ا.ا.ا. در کنفرانس «صلح، دوستی و رفاه» نشست «گفت‌وگوی ترمذ»

ترمذ، ازبیکستان
۲۰ می ۲۰۲۵

بسم الله الرحمن الرحیم

**محترم بهرام‌جان آلویف، معین سیاسی وزارت امور خارجۀ جمهوری ازبیکستان؛**
**محترم الدار آریپوف، رئیس انستتیوت مطالعات استراتژیک و منطقه‌یی تحت نظر ریاست جمهوری ازبیکستان؛**
**نمایندگان عالی‌رتبۀ کشورهای آسیای مرکزی و جنوبی،**
**نمایندگان سازمان‌های بین‌المللی و نهادهای اقتصادی،**

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

باعث افتخار است که امروز در این نشست مهم و ارزشمند، به نمایندگی از مردم و امارت اسلامی افغانستان حضور یافته‌ایم. اجازه دهید در نخست از کشور دوست، برادر و همسایۀ ما، جمهوری ازبیکستان، به خاطر ابتکار عمل سازنده و میزبانی شایستۀ این گفت-وگوی منطقه‌یی تحت عنوان« ایجاد فضای مشترک صلح، دوستی و رفاه» صمیمانه تشکری و قدردانی نمایم.

امروز در منطقه‌ای زندگی می‌کنیم که در کنار چالش‌ها، ظرفیت‌های گسترده‌ای برای همکاری، اتصال و شکوفایی اقتصادی بوجود آمده است. افغانستان به عنوان قلب آسیا و پُل ارتباطی طبیعی میان آسیای مرکزی و جنوبی، همواره خواهان نقش‌آفرینی فعال و مثبت در روندهای منطقه‌یی و بین‌المللی بوده است. ما بر این باوریم که همکاری‌های منطقه‌یی نه‌تنها به نفع ملت‌های ما، بلکه به نفع صلح و ثبات جهانی نیز می باشد.

در سال‌های اخیر، روابط بین امارت اسلامی افغانستان و جمهوری ازبیکستان شاهد گسترش چشمگیر و بی‌سابقه‌ای در عرصه‌های مختلف بوده است. دو کشور با بهره‌گیری از اشتراکات تاریخی، فرهنگی و جغرافیایی، پروژه‌های مشترک متعددی را در بخش‌های زیربنایی، انرژی، ترانزیت و زراعت به اجرا گذاشته‌اند.

از جملۀ این پروژه‌ها می‌توان به ساخت خط آهن افغان – ترانس اشاره کرد که نقشی کلیدی در اتصال آسیای مرکزی به آسیای جنوبی ایفا خواهد کرد. همچنان، پروژۀ انتقال برق ۵۰۰ کیلوولت از ولایت سرخان‌دریا به پُل‌خمری، ظرفیت دسترسی به انرژی را در افغانستان به‌طور چشمگیر افزایش خواهد داد.

در حوزۀ زراعتی، دو کشور طرح‌هایی برای کشت مشترک محصولات زراعتی با استفاده از فناوری‌های نوین را آغاز کرده‌اند. افزون بر این، توافق‌نامه‌هایی به ارزش ۲.۵ میلیارد دالر در بخش‌های انرژی، زراعت و صنایع بین دو کشور به امضا رسیده است. این همکاری‌ها نشان‌دهندۀ تعهد مشترک امارت اسلامی افغانستان و جمهوری

ازبیکستان برای توسعهٔ پایدار، تقویت ثبات منطقه‌یی و بهره‌برداری از ظرفیت‌های مشترک برای رفاه ملت‌های دو کشور است.

**سیاست خارجی امارت اسلامی افغانستان متوازن بر اصول اقتصادی، همکاری‌های منطقه‌یی و احترام متقابل استوار است. ما تأکید می‌ورزیم که خاک افغانستان علیه هیچ کشوری دیگر استفاده نخواهد شد و از دیگران نیز توقع بالمثل داریم. ما می خواهیم از افغانستان به عنوان بستر اتصال، ترانزیت، همکاری‌های تجاری، ترانزیتی و فرهنگی بهره برداری صورت گیرد که به نفع همه می باشد.**

امارت اسلامی افغانستان آماده است تا در تمام ابتکارات منطقه‌یی؛ از جمله پروژه‌های زیربنایی، ترانسپورتی، انتقال انرژی، تجارت، آموزش، تغییر اقلیم و توسعهٔ پایدار، سهم فعال اتخاذ نماید. ما همچنان خواهان توسعهٔ متوازن در سراسر منطقه هستیم و باور داریم که گفتگو، تفاهم و اعتمادسازی، اساس هر نوع پیشرفت مشترک به‌شمار می رود.

ما از جامعهٔ بین‌المللی، کشورهای منطقه، سازمان‌های بین‌المللی و نهادهای مالی تقاضا داریم که افغانستان را به عنوان شریک قابل اعتماد ببینند و برای توسعهٔ پایدار، سرمایه‌گذاری در زیربناها، ظرفیت‌سازی و ارتقای رفاه اقتصادی مردم افغانستان، همکاری مؤثر داشته باشند. امارت اسلامی افغانستان از برگزاری این نشست که در پرتو قطع نامهٔ مجمع عمومی سازمان ملل متحد در مورد تقویت اتصال میان آسیای مرکزی و جنوبی برگزار می‌گردد، قاطعانه حمایت می‌کند. ما این نشست را فرصتی مهم برای تبادل دیدگاه‌ها، شناخت متقابل و ایجاد همکاری‌های عملی میان ملت‌ها می‌دانیم. در پایان، بار دیگر از برادران ما در جمهوری ازبیکستان برای سازماندهی این نشست ارزشمند سپاس‌گزاری می‌کنم و امیدواریم نتایج این گفت‌وگوها زمینه‌ساز آینده‌ای روشن و بهتر برای منطقه و ملت‌ها باشد.

والسلام

# په هېواد کې د زلزلې د زیانونو په اړه د ډیپلوماټیکو او نړیوالو سازمانونو

## استازو غونډې ته د بهرنیو چارو وزیر د وینا متن

د تشریفاتو تالار، بهرنیو چارو وزارت - کابل
۹ نومبر ۲۰۲۵

بسم الله الرحمن الرحیم

**الحمدلله رب العالمین والصلاة والسلام علی رسوله محمد وعلی آله و اصحابه اجمعین.**
**امابعد، وَافْعَلُوا الْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ.**
**د دولتونو او نړیوالو سازمانونو استازو، په کابل کې مېشت کور دیپلوماتیک**
**درنو حاضرینو!**
**په خیر راسئ او هر کله راسئ،**

خوشاله یم چې داسې مهال ستاسې شاغلو او اغلو کوربه یم، چې توانېدلي یو چې د د دوستو او خواخوږو دولتونو او خپل ولس په همکارۍ د هېواد د ختیځ کونړ ولایت د زلزلې په پایله کې د ژغورنې عملیات پای ته ورسوو. له شک پرته چې په کونړ کې د تېرې زلزلې ویجاړۍ او ځاني تلفات د پام وړ وو.

دغه زلزله د ۲۰۲۵ کال د اگست پر ۳۱مه، چې د ۱۴۴۷ هـ.ل کال د ربیع‌الاول له ۷مې سره سمون خوري، د ماښام په ۱۱ بجو ٤٧ دقیقو افغانستان د کونړ ولایت د څوکې او نورګل ولسوالیو په غرنیو سیمو کې د ٦ رختر په شدت سره وشوه. زلزلې د کونړ، ننګرهار، لغمان او نورستان ختیزو ولایتونو کې د خلکو ژوند او کورونه سخت زیانمن کړي دي. له یادې زلزلې وروسته شاوخوا تر یوې اوونۍ سیمه کې د زلزلو ټکانونه احساسېدل.

له پیښې سره سم، د افغانستان اسلامي امارت له لوري د مرستو رسونه کې د شفافیت اصل یقیني کولو په موخه عالي کمېسیون ایجاد شو چې د عملیاتو تر پایه یې په ډېر مؤثر ډول د ژغورنې عملیات او اړمنو ته د مرستو رسوني بهیر په ډېر ښه ډول مدیریت او شفافیت تضمین کړ.

له کابل، ننګرهار او د کنړ له مرکز څخه د ژغورنې دولتي ډلې د هوايي ځواک په مرسته سیمې ته واستول شوې. دا چې سیمه غریبزه او صعب العبوره وه زموږ د ژغورنې د عملیاتو ډېره تکیه پر هوایي ځواک وه. د ژغورنې په ټولو عملیاتو کې زموږ ۱۰ هلیکوپټر الوتکو او یوې اې ان ۳۲ الوتکې برخه اخیستې وه، چې د ۲۰ تنو ماهرو او اراضي سره اشنا پیلوټانو په مرسته یې په دې موده کې تر ۴۴۱ الوتنې وکړې.

په دې الوتنو کې د پېښې سیمې ته د اړتیا وړ توکي لکه خواړه، دارو درمل، البسه او طبي او د ژغورنې ټیمونه لېږدول کېدل او د پېښې له سیمې څخه یې جوړشوي کېمپ، د ننګرهار مرکز جلال اباد ښار او کابل ته هغه ټپیان لېږدول چې ټپونه یې ژور وو او طبي عمل ته یې بېړنۍ اړتیا وه.

> **افغانانو ته دا ډېر ستر بدلون دی، چې له لسیزو جګړو او بې‌ثباتۍ وروسته چې الوتکې په کې یوازې جګړو او بمباریو لپاره کارېدلې او د الوتکو له غړونو سره د مرګ وېره مله وه، اوس دغه الوتکې په بېړنیو حالاتو کې د افغانانو د ژوند ژغورلو پر وسیلو بدلې شوې دي او د ژوند خوندي کولو زیري له ځان سره راوړي.**

له دې فرصت څخه په استفادې پر هغو هېوادونو غږ کوم چې څلور کاله وړاندې کله چې د تحول پرمهال ځینو کړیو د افغان ولس د هوایي ځواک شتمنۍ، الوتکې له هېواد څخه بهر وتښتولې او ځینو ګاونډیو هېوادونو ته یې یوړې، باید بېرته افغانانو ته وسپارل شي، ترڅو په دغه ډول د خیر او ژوند ژغورنې عملیاتو کې ترې ګټه پورته شي.
دا چې ځینو سیمو کې د ژغورنې د ډلو فعالیت ستونزمن بربښېدل، آن زموږ د کماندو ځواکونه سیمې ته کښته کړای شول، ترڅو د پاتې خلکو ژوند وژغوري.
د ژغورنې د عملیاتو په پای کې پېښو سره د مبارزې عالي کمېسیون د تلفاتو، ټپیانو او ورانیو وروستی شمېرې په لاندې ډول شودلي دي:
- **شهیدان: ۲۲۰۵ تنه.**
- **ټپیان: ۳۶۴۰ تنه.**
- **ویجاړ شوي کورونه: ۵۴۱۲ کورونه.**
له پېښې سره سم، د ډیپلوماټیکو چینلونو له لارې هغو هېوادونو سره د اړتیاوو په اړه معلومات شریک شول، چې پوښتنه یې کوله ترڅو مرستې له اړتیاوو سره سمې چمتو کړي. د پېښې په سیمه کې تر ډېره د خېمو، جامو، درملو او خوراکي توکو اړتیا وه.
له نېکه مرغه چې د مرستو په برخه کې د حکومتي او ولسي مرستو ترڅنګ د سیمې او نړۍ دوستو او خواخوږو هېوادونو هم د البسې، خوراکي توکو، دوا او درملو او سیارو طبي مرکزونو په برخو کې مرستې وکړې.
د ځینو دوستو هېوادونو د ژغورنې ټیمونو هم په ساحه کې د ژغورنې په عملیاتو کې برخه واخیسته چې ځانګړې مننه ځینې کوو.
د مرستندویه هېوادونو په برخه کې د قطر دولت، چین ولسي جمهوریت، متحده عربي امارات، ایران اسلامي جمهوریت، پاکستان اسلامي جمهوریت، هند جمهوریت، روسیې فدراسیون، ازبیکستان جمهوریت، تاجیکستان جمهوریت، ترکمنستان، جاپان، بنګله‌دېش جمهوریت، سویس او نورو څخه د زړه له تله مننه کوو چې په دې سخت وخت کې د افغانانو ترڅنګ ودرېدل او پر وخت یې مرستې وکړې. همداراز له ټولو هغو دولتونو، سازمانونو او ټولنو څخه مننه کوو چې په دې پېښه کې یې له موږ سره غمشریکي کړې او خرګندونې یې لرلې دي.
**درنو حاضرینو!**
د کونړ زلزله که څه هم ډېره ورانوونکې او دردونکې پېښه وه چې موږ ته یې ډېر مادي، مالي او انساني زیانونه ورسول؛ مګر له نېکه‌مرغه زموږ د حکومت اړوندې ادارې، لکه د ملي دفاع وزارت اړوند هوایي ځواک، کورنیو چارو وزارت او محلي حکومت، پېښو سره د مبارزې ملي ادارې، د سرې میاشتې ټولنې، د عامې روغتیا وزارت، د ټولګټو چارو وزارت، د کلیو د پراختیا وزارت او ګڼو نورو ادارو له پېښې سره سم خپل ټول امکانات په کار واچول، سیمې ته یې ځانونه ورسول او له پېښې وروسته د وضعیت مدیریت کې یې ډېر مثبت رول ولوباوه.
همداراز، دا پېښه که څه هم داسې غمیزه وه، چې ټول وطن یې وردداوه؛ خو په ورته وخت کې د ټول وطن خلک د کونړ د خلکو ترڅنګ ودرېدل او په ولسي ډول زیانمنو سره پراخې مرستې وشوې او آن د ژغورنې عملیاتو کې د ګډون په موخه ډلې ډلې خلک کونړ ته ورسېدل، چې دا زموږ د ولس ملي او اسلامي احساس او د یووالي بارز مثال دی.
**وطن کې د مېشتو افغانانو ترڅنګ له هېواده بهر هم د مېشتو افغانانو ټولنو د مرستو په برخه**

**کې خپل چمتووالی ښکاره کړ؛ خو له بده مرغه چې پر افغانستان د غیرقانوني او ظالمانه بندیزونو له امله زموږ وطنوالو ونه شو کولای خپلو زلزله‌ځپلو وطنوالو ته مرستې راولېږي!**

دا د ډېر افسوس وړ او د ټولو بشري موازینو خلاف کار دی چې یو څوک له طبیعي افت ځپلو انسانانو سره هم د مرستې مخنیوی کوي!

په دې اساس یو ځل بیا غږ کوو چې پر افغانستان لګېدلي بندیزونه لرې شي ترڅو افغانان په خپلو ظرفیتونو له خنډ پرته د وطن په ابادۍ کې برخه واخلي.

همداراز د دې پېښې له امله له ټولو هغو دولتونو او سازمانونو مننه کوم چې په دې غم او خدمت کې زموږ ترخنګ ودرېدل، مرستې یې وکړې او یا یې د غمشریکۍ او افغانانو سره د درېدو اعلامیې نشر کړې.

دا ټولې مرستې او همکارۍ د قدرداني او مننې وړ دي. که څه هم هغوی چې خپل عزیزان له لاسه ورکړي، د هغوی درد او رنځ په دې مرستو له منځه نه ځي؛ مګر بې له شکه چې د هغوی د کړاو په کمولو کې ټولو هڅه کړې ده.

**درنو حاضرینو!**

**تر دې مهاله موږ وتوانېدو چې د زلزلې کړکېچ سره آني او بېړنۍ مرسته وکړو چې له نېکه‌مرغه په دې برخه کې بریالي وو.**

- **زلزله‌ځپلو سیمو کې د ویجاړیو د اوږدمهاله مدیریت په موخه موږ غواړو، د بې‌کوره شوو ټپونه او دردونه مرهم کړو، هغوی لپاره د سرپناه او ثابتو کورونو، ویجاړوو شوو صحي مرکزونو، مکتبونو او مدرسو، زراعتي زېربناوو او ورته نورو مواردو جوړول زموږ لومړیتوب دی.**

دا چې په سیمه کې د ژوند لومړنۍ زېربنا ضربه لیدلې ده؛ نو اړتیا ده چې په دې اړه د بیارغونې منځمهاله او اوږدمهاله پلان ولرو.

هیله‌من یو چې په دې برخه کې هم وتوانېږو د کونړ د زلزله‌ځپلو کړاو او رنځ یو څه کم کړو.

دا د زلزله‌ځپلو سیمو او د حکومت او بهرنیو مرستندویه لوریو له خوا د متأثره سیمې د مدیریت عمومي انځور و او مرسته کوونکو هېوادونو او سازمانونو څخه د مننې مراتب وو، چې ستاسې مخې ته وړاندې شول. ستاسې له راتګ مننه کوم او هیله کوم چې دغه موارد او زموږ مننه او قدرداني خپلو پلازمېنو او مرکزونو ته او د بهرنیو چارو محترمو وزیرانو ته ورسوئ.

ډېره مننه

## سخنرانی مولوی امیرخان متقی وزیر امور خارجهٔ ا.ا.ا.
## در ششمین نشست فارمت مشورتی مسکو

مسکو، روسیه
۴ اکتوبر ۲۰۲۴

بسم الله الرحمن الرحيم

**الحمدلله رب العالمین و صلاة والسلام علی محمدو علی اله واصحابه اجمعین، و بعد، نمایندگان محترم کشورهای عضو و کشورهای مهمان در ششمین نشست مشورتی فارمت مسکو در مورد افغانستان،**

**صبح همهٔ شما بخیر،**

در قدم نخست می‌خواهم از حکومت فدراسیون روسیه اظهار سپاس نمایم که مانند گذشته در ششمین نشست فارمت مشورتی مسکو نیز از هیأت امارت اسلامی افغانستان دعوت نموده است و از میزبانی گرم وزارت امور خارجهٔ روسیه و شخص وزیر امور خارجه، آقای سرگی لاوروف نیز سپاس گزاریم.

حکومت فدراسیون روسیه زمانی دست به ابتکار فارمت مسکو زد که وضعیت در افغانستان مبهم و نگران‌کننده بود. فارمت مسکو برای امارت اسلامی افغانستان حتی قبل از آزادی کشور فرصت بحث و گفتگو با کشورهای تأثیرگذار منطقه و فرامنطقه را مساعد ساخت که بدون شک نقش مؤثری ایفا نموده است و به همین دلیل، امارت اسلامی افغانستان همیشه در این نشست‌ها به سطح بلند شرکت نموده است.

**حاضرین گرامی،**

خوشبختانه با گذشت سه سال از حاکمیت دوبارهٔ امارت اسلامی افغانستان، همکاری‌ها بین افغانستان و کشورهای منطقه شاهد پیشرفت‌های قابل ملاحظه بوده است.

پس از آنکه جمهوری مردم چین به‌عنوان نخستین کشور، سفیر امارت اسلامی افغانستان را در آغاز سال جاری پذیرفت، به تعقیب آن پس از توافقات دوجانبه موفق شدیم که دیپلومات‌های ما از سوی کشورهای امارات متحدهٔ عرب و جمهوری ازبیکستان نیز به سطح سفیر پذیرفته شوند.

خوشبختانه این سلسله ادامه دارد و ما در حال گفت‌وگوهای سازنده با سایر کشورها نیز هستیم و با گذشت هر روز، سطح و ساحهٔ دیپلوماسی ما افزایش بیشتر می‌یابد. امیدواریم با سایر کشورها نیز پیشرفت‌های خوبی داشته باشیم.

همچنان قابل ذکر است که کشورهای قزاقستان و قرغیزستان نام "تحریک طالبان" را که در گذشته امارت اسلامی با آن مسمی بود، از فهرست گروه‌های ممنوعه حذف نمودند. این اقدامات نشانگر شکل‌گیری درک خوب سیاسی و ازمیان‌برداشتن مانعی فرا راه توسعهٔ بیشتر روابط دوجانبه است.

همچنان اظهارنظرهای مثبت مقامات بلندپایهٔ فدراسیون روسیه در این مورد را به دیدهٔ قدر می‌نگریم و امیدواریم در آیندهٔ نزدیک شاهد برداشتن گام‌های مؤثرتر باشیم.

**حضار گرامی،**

یکی از عرصه‌هایی که امارت اسلامی افغانستان در آن پیشرفت چشمگیر نموده است، اعادۀ امنیت و ثبات در افغانستان است. پس از نزدیک به نیم قرن جنگ‌های تحمیلی و بی‌ثباتی‌های دوامدار، امروز افغانستان دارای امنیت سرتاسری گردیده است.

ما توانستیم در جریان سه سال گذشته روایت حاکم در افغانستان را از دغدغۀ امنیت به‌سوی توسعه‌محوری، بازسازی اقتصادی و جذب سرمایه‌گذاری و ارائۀ خدمات بهتر برای مردم افغانستان تغییر دهیم. بادرنظرداشت موقعیت ویژۀ افغانستان در منطقه، بدون شک امنیت و ثبات در افغانستان به نفع همه کشورهای منطقه و فرامنطقه می باشد.

**حکومت افغانستان در سه سال گذشته در کنار آنکه مصروف ساختن نهادهای حکومتی به‌ویژه نهادهای امنیتی بوده، توجه خاص به مبارزه در برابر گروه‌های تخریبکار و فتنه‌گر نیز داشته که الحمدلله در نتیجۀ اقدامات مؤثر نهادهای امنیتی امارت اسلامی افغانستان، امروز هیچ گروهی در افغانستان جای پا ندارد و هیچکس نمی‌تواند با استفاده از خاک افغانستان بر ضد امنیت منطقه تحرکاتی داشته باشد.**

قابل یادآوری است که طی سه سال گذشته حملاتی که به نام داعش در افغانستان صورت گرفته است، اکثریت آن توسط اتباع کشورهای دیگر ارتکاب یافته که از بیرون وارد افغانستان شده بودند.

با استفاده از این فرصت از همه کشورهای منطقه خواهان همکاری در قسمت جلوگیری سربازگیری از اتباع شان توسط داعش و سپس فرستادن آنان به افغانستان و سایر کشورها جهت انجام عملیات تخریبکارانه می‌باشیم.

اطلاعات نشان می‌دهد که در این اواخر داعش توانسته است در بیرون از مرزهای افغانستان مراکز تجهیز و تربیت ایجاد نماید که باعث نگرانی حکومت افغانستان می‌باشد.

بعضی اوقات نمایندگان برخی کشورها در شورای امنیت سازمان ملل متحد و یا در رسانه‌ها از وجود تهدیدها در خاک افغانستان اظهار نگرانی می کنند. این اظهارات کاملاً بی‌اساس بوده و به باور ما خلای معلوماتی در مورد افغانستان و یا تحریف معلومات توسط حلقات خرابکار تا سازمان‌های بین‌المللی راه یافته است.

**خواهش ما این است که از عینک بیگانه‌ها به‌سوی افغانستان نگاه نشود، بلکه خود باید با استفاده از منابع معلوماتی موثق اطمینان حاصل نمایند. ما حاضریم در این مورد همکاری کنیم.**

در کنار امنیت، مواد مخدر که در گذشته به نگرانی‌ای جدی برای منطقه و جهان مبدل شده بود، در نتیجۀ سیاست‌های مسوولانه و جدی رهبری امارت اسلامی افغانستان جلو هر نوع کشت، پروسس و قاچاق مواد مخدر گرفته شده است. لازم به ذکر می‌دانیم که در این اواخر شاهد قاچاق نوع پروسس‌شدۀ مواد مخدر از بیرون به افغانستان هستیم که از همه کشورهای همسایه توقع داریم در قسمت جلوگیری این مشکل همکاری نمایند.

افغانستانِ مستقل، دارای امنیت، ثبات و توسعه‌یافته و عاری از هر نوع مواد مخدر از هر لحاظ به نفع منطقه و جهان است.

**حضار گرامی،**

امنیت مطمئن در افغانستان برای ما و شرکای اقتصادی ما فرصت داده است تا در جهت آغاز کار عملی پروژه‌های بزرگ منطقه‌یی که متأسفانه ده‌ها سال به تعویق افتاده بودند، دست به کار شویم.

آغاز کار عملی پروژه‌های بزرگ منطقه‌یی مانند لوله‌کَشی پروژۀ تاپی در خاک افغانستان، پروژۀ انتقال برق ترکمنستان به پاکستان از راه افغانستان یا تاپ، توسعۀ خط آهن و فایبر نوری در خاک افغانستان از جمله پروژه‌های بزرگی اند که در ماه گذشته توسط مقامات بلندپایۀ افغانستان و ترکمنستان افتتاح گردیدند.

در عین حال، این پیشرفت‌ها نشان می‌دهد که بالاخره زمان استفاده از فرصت‌ایجادشده در افغانستان مساعد شده است و حکومت افغانستان با پیگیری سیاست خارجی اقتصادمحور علاقمند است که در بحث اتصال منطقه‌یی وارد مرحلۀ همکاری‌های عملی گردد.

قابل یادآوری می‌دانم که حکومت افغانستان علاقمند است بقیه پروژه‌های اتصال منطقه‌یی از جمله افغان - ترانس، راه لاجورد، دهلیز شمال-جنوب، پروژۀ کاسا یک هزار و خط آهن ترکمنستان، افغانستان و تاجیکستان با همکاری شرکای منطقه‌یی به‌زودی آغاز شوند.

آمار نشان می‌دهد که در جریان سه سال گذشته تجارت ما با کشورهای همسایه و منطقه، به‌ویژه ایران، تاجیکستان، ازبیکستان، ترکمنستان، قزاقستان و فدراسیون روسیه افزایش یافته است.

در افغانستان شرایط مناسب برای جذب سرمایه‌گذاری به‌وجود آمده است. در بخش‌های معادن؛ زراعت؛ انرژی آفتابی، بادی و آبی؛ مسیر های ترانزیتی مانند شاهراه ها و خط آهن و کارخانه‌های صنعتی زمینه‌های خوب سرمایه‌گذاری وجود دارد.

**حضار گرامی،**

رسیدن به این هدف نیازمند درک درست سیاسی از همدیگر و توسعۀ هرچه بیشتر همکاری‌های دوجانبه و چندجانبه می‌باشد.

بنابراین، پیشنهاد می‌کنم تا با همکاری کشور میزبان و اعضای فارمت مسکو، این میکانیزم را به یک روند همکاری بین افغانستان و منطقه مبدل کنیم.

این امر از یک سو، مسیری واضح و اهداف روشن برای این ابتکار ارزندۀ فدراسیون روسیه تعیین خواهد کرد و از سوی دیگر، در توسعۀ همکاری‌های عملی بین افغانستان و کشورهای منطقه نقشی ارزنده خواهد داشت.

**در پایان، ضروری می‌دانم که از وضعیت وخیم در شرق میانه نیز یادآوری کنم. متأسفانه نظم حاکم بین‌المللی در جلوگیری از کشتار بی‌رویۀ مردم مظلوم غزه توسط رژیم صهیونیستی ناکام مانده و عملاً کارآیی سازمان ملل متحد را پرسش برانگیز ساخته است. نه تنها اینکه از نسل‌کشی در غزه جلوگیری نشد، بلکه با گذشت هر روز وحشت و جنایات رژیم اسراییلی در منطقه رو به گسترش است.**

توقع می‌رود بازیگران تأثیرگذار در منطقه و جهان احساس مسوولیت کنند و دست به اقدامات عاجل و عملی برای پایان‌دادن به کشتار مردم غزه، لبنان و بقیه مناطق روی دست گیرند.

سپاس فراوان،

روز تان خوش!

# گسترش روز افزون تعاملات و تحکیم

## روابط امارت اسلامی با جهان

**مقدمه**

پس از حاکمیت دوباره، امارت اسلامی افغانستان طی بیش از چهارسال گذشته سیر صعودی و مثبت در عرصهٔ حکومت داری، حاکمیت قانون وتأمین امنیت سراسری و نیز احیا و گسترش روابط دوستانه با کشورهای جهان، به ویژه کشورهای همسایه داشته است.

در عین حال، امارت اسلامی افغانستان به عنوان کشوری مستقل و متعهد به ارزش‌های دینی، روابط خارجی خود را بر اصول احترام متقابل و تعامل متوازن بنا نهاده است و در حال حاضر با همه کشورهای همسایه و منطقه روابط نزدیک و دوستانه قایم نموده است.

این گزارش ویژه نشان می‌دهد که دستگاه دیپلوماسی امارت اسلامی افغانستان براساس سیاست خارجی متوازن و اقتصادمحور، دست آوردهای چشم گیر و فوق العاده ای در عرصهٔ سیاست ، اقتصاد و تجارت باکشورهای همسایه منطقه و جهان داشته است.

این گزارش همچنان روشن می‌سازد که کارمندان بخش های مختلف وزارت امور خارجه با انگیزهٔ مثبت کاری و حس وطن دوستی و تعهد به نظام امارت اسلامی، طبق سیاست خارجی در حوزه های مربوطهٔ کاری عمل نموده اند.

**روابط افغانستان با کشورهای جنوب و جنوب شرق آسیا**

**پاکستان**

**روابط بین پاکستان و افغانستان به شکل عادی جریان دارد.( البته تا ۲۲ / ۰۹ / ۲۰۲۴ وپس از حمله هوایی نظامیان پاکستانی به خاک افغانستان و نقض حریم هوایی کشور و جواب متقابل نیروهای دفاعی افغانستان به آنان ، روابط میان دوکشور به تیرگی گرایید. هرچند امارت اسلامی تأکید به مذاکره وتفاهم نمود اما جانب پاکستان حاضر به حل مسئله از طریق تفاهم نشد)**

سفارت امارت اسلامی در اسلام آباد و نیز قونسلگری های کشور در پیشاور، کویته وکراچی فعالیت دارند و سفارت پاکستان در کابل و قونسلگری های آن کشور در ولایات ننگرهار، قندهار و بلخ فعالیت دارند.

مقامات ارشد حکومت پاکستان تنها در جریان سال ۲۰۲۵ چهار بار به افغانستان سفر رسمی انجام دادند که از جمله، سه بار آقای اسحاق دار، وزیر امور خارجهٔ پاکستان و یک بار آقای محسن نقوی، وزیر داخلهٔ آن کشور به کابل سفر نموده و با مقامات امارت اسلامی در مورد روابط سیاسی، اقتصادی وامنیتی بحث نمودند.

در مقابل، وزیر و معین صنعت وتجارت کشور در رأس هیأتی بطور جداگانه و رئیس اول سیاسی وزارت امور خارجه نیز به پاکستان سفر رسمی انجام دادند و با مقامات پاکستانی در مورد توسعهٔ تجارت وترانزیت دیدار کردند.

همچنـان، کمیتـۀ مـشترک هم‌آهنگـی بـرای مدیریـت مسـائل امنیتـی و سیاسـی بیـن دوکشـور ایجـاد و هفـت دور نشسـت برگـزار نمـود.
درعین حال، ابتکار موسوم بـه مشورت های وزارت امور خارجـه بـا وزارت امـور خارجـه، ایجـاد شـد و دور اول نشسـت آن به‌تاریخ ٦ الـی ٩ جـولای ۲۰۲۵ در اسلام‌آباد برگـزار شـد.
امـارت اسلامـی افغانسـتان، به‌ویـژه وزارت امـور خارجـه، باورمنـد بـه احترام متقابـل بیـن کشـورها اسـت و همـواره تعامـل مثبـت و اعتمادسـازی را ، راه حـل مسـائل اختلافـی دانسـته و بـرآن تأکیـد نمـوده اسـت.

**هند**

هنـد از آغـاز حاکمیـت دوبـارۀ امـارت اسلامـی، روابـط و همـکاری بـا افغانسـتان را در بخش‌هـای صحـت، تعلیـم، غـذا، تمویـل پروژه‌هـای ناتکمیـل، اهـدای محـدود ویـزه و تجـارت ادامـه داده اسـت.
امـارت اسلامـی در عرصه‌هـای مختلـف بـا هنـد روابـط عمیـق و دوسـتانه دارد. سـفارت و قونسلگری های افغانسـتان در هنـد فعـال انـد. همین‌گونـه سـفارت هنـد نیـز در کابـل فعالیـت دارد. روابـط تجـاری بیـن افغانسـتان و هنـد از طریـق دهلیـز هوایـی و بنـدر چابهـار در سـطحی خـوب قـرار دارد. افغانسـتان در سـال ۲۰۲۵ بیـش از ۸۱ ملیـون دالـر بـه هنـد صـادرات داشـت. هنـد از جملـه نخسـتین کشـورهایی بـود کـه بیشتریـن کمـک را بـرای آسـیب‌دیدگان زلزلـه در ولایـات خوسـت، پکتیـکا، کنر و بلـخ انجـام داد. روابـط هنـد بـا امـارت اسلامـی پـس از انجـام سـفر هفت‌روزۀ وزیـر امـور خارجـه بـه دهلـی جدیـد بیـشتر از پیـش گـسترش و تقویـت یافـت. وزرای صحـت عامـه و صنعـت وتجـارت افغانسـتان بـه دهلـی جدیـد سـفر رسـمی داشـتند. دولـت هنـد کمـک بـه افغانسـتان را در بودجـۀ سـال ۲۰۲٦ اضافـه نمـود کـه بـر اسـاس آن، هنـد بیـش از ۱۷ میلیـون دالـر بـه افغانسـتان کمـک خواهـد کـرد.

**مالیزیا، اندونیزیا و جاپان**

کشـورهای جنـوب شرق آسـیا بـا امـارت اسلامـی روابـط دیپلوماتیـک در سـطح سـفارت دارنـد. سـفارت و قونسلگری های افغانسـتان درآن کشـورها از سـوی نماینـدگان امـارت اسلامـی مدیریـت می‌شـوند . از جملـه، هشـت بـار هیـأت عالی‌رتبـۀ مالیزیـا، بـه شـمول وزیـر امـور خارجـه اندونیزیـا و شمـاری از مقامـات ایـن کشـور بـه کابـل سـفر رسـمی انجـام دادنـد. همچنـان، مقامـات امـارت اسلامـی سـفرهای متعـدد رسـمی بـه کشـورهای جنـوب شرق آسـیا انجـام داده‌انـد. نشست‌های دوجانبه و چندجانبه بیـن مقامـات عالی‌رتبـه و دیپلوماتـان افغانسـتان بـا مقامـات و دیپلوماتـان ایـن کشـورها برگـزار گردیـده اسـت. و ایـن کشـور هـا بیشتریـن کمک‌هـای بشردوسـتانه را بـه افغانسـتان داشـتند. از جملـه جاپـان ازسـال ۲۰۲۱ تاکنـون بیـش از ۵۴۹ میلیـون دالـر بـه افغانسـتان کمـک کـرده اسـت.

**روابـط افغانسـتان بـا ایـران، ترکیـه، کشـورهای عربـی و شمال افریقـا**

گزارش‌هـا نشـان می‌دهـد کـه ٦۹ مـورد سـفر مقامـات عالی‌رتبـۀ امـارت اسلامـی بـه سـطح رئیس الـوزراء، معاونیـن آن و مقامـات ارشـد امنیتـی و سـایر مسـوولین امـارت اسلامـی جهـت اشتراک در مجالـس رسـمی بـه ایـن کشـورها انجـام شـده اسـت.
همچنـان نشسـت‌های متعـدد دوجانبـه و چندجانبـه بیـن مقامـات عالی‌رتبـۀ امـارت اسلامـی بـا مقامـات عالی‌رتبـۀ ایـن کشـورها صـورت گرفتـه اسـت.

**ایران**

افغانستان و ایران با داشتن مشترکات دینی، فرهنگی، تاریخی و زبانی باهم روابط عمیق و حسنه دارند. سفارت و قونسلگری های امارت اسلامی در ایران فعالیت دارند و به همین ترتیب، سفارت و قونسلگری های جمهوری اسلامی ایران نیز در افغانستان فعال اند.

مقامات امارت اسلامی به شمول معاون سیاسی پیشین ریاست الوزراء به هدف اشتراک در مراسم تحلیف رئیس جمهور ایران، به تهران سفر رسمی داشتند . مولوی امیرخان متقی وزیر امور خارجه و شماری دیگر از وزرا و معینان سفرهای متعدی رسمی به انجام داده اند.

مقامات جمهوری اسلامی ایران به سطح وزیر امور خارجه ، داخله و تجارت وسرمایه گذاری و معینان وزارت های مختلف به افغانستان سفر های رسمی داشتند.

آقای سید عباس عراقچی، وزیر امور خارجۀ جمهوری اسلامی ایران به تاریخ ۲۶/۱ / ۲۰۲۵ در رأس هیأتی عالی‌رتبه به کابل آمدند و در دیدار با مولوی امیر خان متقی وزیر امور خارجه، در مورد روابط دوجانبه و همکاری‌های اقتصادی بین افغانستان و ایران، وضعیت مهاجرین افغان در ایران و مسائل آب صحبت نمودند.

در کل، حجم روابط تجاری افغانستان وایران در سال ۲۰۲۵ به ۵ میلیارد دلار افزایش یافته است.

همچنان، نشست های آنلاین ۱۲ کمیته بین مسوولین وکارشناسان ادارات مختلف افغانستان و ایران برگزار شده که نتایج مثبتی در پی داشته اند.

**ترکیه**

امارت اسلامی افغانستان با جمهوری ترکیه روابط حسنه و دیرینه دارد. سفارت و نمایندگی های قونسلی افغانستان در ترکیه فعال بوده و از سوی دیپلوماتان امارت اسلامی مدیریت می شوند. همزمان با این، سفارت ترکیه در کابل نیز فعالیت دارد.

مقامات عالی‌رتبۀ امارت اسلامی همواره به نشست های بین المللی که در ترکیه برگزارشده، رسماً از جانب ترکیه دعوت شده اند. وزرای امور خارجه، دفاع ملی، ارشاد، حج و اوقاف و صنعت وتجارت و نیز معینان ودیپلوماتان امارت اسلامی افغانستان سفرهای متعدد رسمی به ترکیه داشته اند.

همچنان، هیأت عالی‌رتبۀ دولت ترکیه نیز به کابل سفرهای متعدد انجام داده اند و با مقامات امارت اسلامی در مورد گسترش روابط بین دو کشور دیدار نموده اند.

ترکیه در سال‌های اخیر چندین محمولۀ کمک های اضطراری به افغانستان ارسال کرده و برخی پروژه‌های عمرانی، آموزشی و خدماتی را به افغانستان کمک کرده است.

روابط اقتصادی دو کشور نیز بیشتر بر تجارت، ترانزیت و اجرای پروژه‌های عام‌المنفعه متمرکز می‌باشد. افغانستان موافقتنامۀ (گروه کاری مشترک تجارت وسرمایه گذاری) را با ترکیه امضا نموده است. همچنان افغانستان صادرات مستقیم از طریق راه لاجورد به ترکیه دارد.

براساس معلومات وزارت صنعت و تجارت، حجم تجارت بین افغانستان و ترکیه در ده ماه نخست سال ۲۰۲۴ به ۹۴ میلیون دالر رسیده است.

علاوه بر نهادهای دولتی آن کشور، سکتور خصوصی و سرمایه گذران ترکی بیشترین

سرمایه گذاری را در افغانستان نموده اند که آخرین مورد آن سرمایه گذاری ۶۵ میلیون دالری یک شرکت ترکی در بخش تولید برق بادی در ولایت هرات بود.

**افغانستان و کشورهای عربی**

از آنجا که کشورهای عربی از لحاظ سیاسی و اقتصادی درسطح جهان جایگاه بلند دارند، خوشبختانه روابط امارت اسلامی با این کشورها در بخش های مختلف عمیق و حسنه است. سفارت های افغانستان در این کشورها فعال بوده و از جانب دیپلوماتان امارت اسلامی مدیریت می شوند و همچنان سفارت های کشورهای عربی درکابل باز و فعال اند. مقامات امارت اسلامی به سطح رئیس الوزرا، معاونین آن، وزیر دفاع ملی، وزیر امور داخله ، رئیس عمومی استخبارات و وزرای سکتور اقتصادی تا کنون ۶۵ بار به این کشورها سفر رسمی داشتند. همچنان هیأت عالی رتبهٔ آن کشورها نیز سفرهایی به کابل داشته اند و نشست های دوجانبه و چندجانبه با مقامات امارت اسلامی در مورد تقویت روابط دوجانبه و توسعهٔ اقتصادی داشته اند.

همچنان این کشورها بیشترین کمک های بشردوستانه را پس از رویداد های طبیعی طی بیش از چهار سال گذشته برای متضررین افغان اهدا نموده اند.

سکتور خصوصی و سرمایه گذاران کشورهای عربی بیشترین سرمایه گذاری را در بخش های مختلف مانند بنادر زمینی و میدان های هوایی افغانستان انجام داده اند.

همزمان حدود ۱۵۰ الی ۳۰۰ هزار اتباع افغانستان در امارات حضور دارند و حجم زیادی از سرمایه‌های تجار افغان در این کشور مستقر است که این امر، روابط اقتصادی بین افغانستان و امارات امتحدهٔ عرب را مستحکم نموده است.

براساس معلومات ریاست دوم سیاسی که کشورهای عربی مربوط حوزه کاری آن می شود، طبق تفاهمات رسمی صدها کارگر ماهر افغان به این کشورها به طور رسمی اعزام شده اند.

**روابط افغانستان با کشورهای آسیای مرکزی، روسیه و چین**

افغانستان بیشترین پروژه های کلان زیربنایی اقتصادی را با کشورهای آسیای مرکزی و منطقه دارد.

امارت اسلامی باور دارد که پیشرفت و توسعهٔ اقتصادی افغانستان و منطقه با همدیگر رابطهٔ ناگسستنی دارد. به همین دلیل، دستگاه دیپلوماسی تلاش‌های عملی را برای گسترش و تحکیم این روابط انجام داده و می‌دهد.

امارت اسلامی پس از تأمین امنیت سراسری در کشور، در صدد احیا و آغاز دوبارهٔ پروژه‌های زیربنایی مشترک بین افغانستان و کشورهای آسیای مرکزی و منطقه در خاک افغانستان شد. طبق گزارش ریاست سوم سیاسی علاوه بر تلاش برای آغاز کار این پروژه ها قراردادهای ساخت آنان نیز مورد بررسی و دقت بیشتر قرارگرفت.

درنتیجه، تنها در هزینهٔ پروژهٔ ساخت خط آهن مزارشریف ـ حیرتان از ۱۷ میلیون دالر به ۷ میلیون دالر کاهش به عمل آمد.

**کشورهای آسیای مرکزی**

افغانستان به دلیل داشتن مشترکات دینی، فرهنگی، تمدنی و تاریخی و نیز راه تجاری ابریشم با این کشورها از قرن‌ها به‌این‌سو روابط

داشته است و اکنون نیز امارت اسلامی در سطح سفارت با این کشورها روابط حسنه و مستحکم دارد.
سفارت‌ها وقنسولگری‌های افغانستان درکشورهای آسیای مرکزی فعالیت دارند واز سوی نمایندگان امارت اسلامی مدیریت می‌شوند. به‌همین ترتیب سفارت‌ها وقنسولگری‌های آن کشورها در افغانستان فعالیت دارند.
این کشورها (ازبیکستان، ترکمنستان، قزاقستان، قرغیزستان و تاجیکستان) تاکنون چندین نشست بین‌المللی را با حضور مقامات امارت اسلامی در مورد افغانستان برگزار نموده‌اند. مقامات عالی‌رتبۀ این کشورها سفرهای متعدد رسمی به افغانستان داشته‌اند. همچنان مقامات عالی‌رتبۀ امارت اسلامی سفرهای متعدد رسمی به آن کشورها انجام داده‌اند. نشست‌های متعدد دوجانبه و چندجانبه میان هیأت عالی‌رتبه برگزار شده. کار ساخت پنج پروژۀ بزرگ مشترک زیربنایی مانند تاپی ( ترکمنستان، افغانستان، پاکستان، هندوستان)، تاپ (ترکمنستان، افغانستان، پاکستان)، کاسا ۱۰۰۰، افغان_ترانس، پروژۀ انتقال انرژی سرخان دریا _ پلخمری، پروژۀ خط آهن تورغندی- هرات وآقینه و نیز پروژۀ انرژی سب‌ستیشن نورالجهاد همین اکنون در خاک افغانستان جریان دارد.
جمهوری قزاقستان در پروژۀ نقشۀ راه به ارزش ۳ ملیارد دالر و نیز ۵۰۰ میلیون دالر در پروژۀ خط آهن تورغندی - هرات و قندهار- سپین بولدک سرمایه‌گذاری نموده است.
همچنان بازار مشترک میان افغانستان و جمهوری اوزبیکستان در شهرک بندری ترمذ همه‌روزه فعالیت دارد.
درعین حال، ترکمنستان وازبیکستان تأمین‌کنندگان اصلی برق برای افغانستان اند. علاوه بر پروژه‌های بزرگ زیربنایی، در مناسبات تجاری نیز چندین تفاهم‌نامۀ رسمی بین افغانستان و این کشورها وجود دارد. همچنان روابط امارت اسلامی افغانستان با قزاقستان در بخش‌های سیاسی و اقتصادی حسنه واستوار برعمل‌گرایی است. محکمۀ عالی قزاقستان رسماً نام امارت اسلامی را از فهرست گروه‌های تحریم‌شده که در خاک قزاقستان ممنوع الفعالیت بودن، حذف نمود.
نمایندۀ ویژۀ رئیس جمهور قزاقستان و شماری از هیئت عالی‌رتبۀ این کشور چند بار به کابل سفر کرد و علاوه بر اعلام کمک ۵۰۰۰ تُنی آرد به افغانستان، از تداوم همکاری‌های اقتصادی و بشردوستانۀ آن کشور به افغانستان اطمینان دادند. این کشور بیشترین کمک‌های بشری به زلزله‌زدگان هرات را اهدا نمود.
همچنان، پس از سفر رسمی وزیر تجارت قزاقستان به کابل و دیدارش با مقامات افغان، توافق بر ایجاد اتاق مشترک تجاری میان افغانستان و قزاقستان اعلام گردید.
براساس معلومات وزارت صنعت وتجارت افغانستان، در نشست مجمع تجاری افغان - قزاق که در ۰۷/ ۰۵/ ۲۰۲۵ در کابل با حضور مقامات عالی‌رتبۀ دو کشور برگزار شد، ۲۰ تفاهم‌نامۀ همکاری و تجاری به ارزش مجموعی ۱۴۰ میلیون دالر میان بخش خصوصی افغانستان و قزاقستان امضا شده است.
طبق معلومات این وزارت، این تفاهم‌نامه‌ها زمینۀ همکاری در حوزه‌های دوا، فلزات، منسوجات، موتر، زراعت، مواد ساختمانی و سایر بخش‌های اقتصادی را فراهم می‌کند.

اطلاعات وزارت صنعت و تجارت نشان می‌دهد که در جریان سه سال گذشته میزان دادوستد تجاری میان افغانستان و قزاقستان ۳۲ درصد افزایش یافته و این امر نشان‌دهندهٔ گسترش روابط تجاری میان دو کشور است. قزاقستان مواد غذایی، به‌ویژه آرد و گندم، به افغانستان صادر می‌کند و افغانستان محصولات زراعتی و میوهٔ تازه به آن کشور صادر می‌نماید.

روابط میان افغانستان و آذربایجان بر محور تقویت همکاری‌های اقتصادی، ترانزیت از طریق دهلیز لاجورد و سرمایه‌گذاری متقابل استوار است. آذربایجان سیاست خارجی اقتصادمحور امارت اسلامی را فرصتی مناسب برای همکاری‌های بیشتر میان کشورهای آسیای مرکزی و منطقه می‌داند.

سفارت این کشور مانند اکثریت کشورهای منطقه، در کابل باز و فعال است و هیأت عالی‌رتبهٔ آذربایجان بارها به کابل سفر رسمی داشتند و پس از نشست‌های دو جانبه و چندجانبه با مقامات امارت اسلامی خواهان گسترش و تقویت روابط سیاسی و اقتصادی با امارت اسلامی بوده و نقش استراتژیک افغانستان را در اتصال به آسیای مرکزی و اروپا با اهمیت دانستند.

همچنان ملا عبدالغنی برادر، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، بنابر دعوت رسمی باکو جهت اشتراک در هفدهمین اجلاس سران سازمان همکاری‌های اقتصادی (اکو) بتاریخ ۲۲ / ۰۶ / ۲۰۲۵ ، به آذربایجان سفر نمودند. آقای برادر با علی اسدوف، نخست‌وزیر آذربایجان در باکو دیدار و بر گسترش و تقویت روابط سیاسی و اقتصادی میان دو کشور تأکید نمود.

**روابط افغانستان و روسیه**

فدراسیون روسیه یکی از کشورهای قدرتمند و تأثیرگذار جهان است. امارت اسلامی افغانستان درسطوح مختلف و با درنظرداشت سیاست خارجی خویش، با این کشور روابط حسنه دارد.

روسیه نخستین کشوریست که نظام امارت اسلامی را در ۰۳ / ۰۷ / ۲۰۲۵ به‌رسمیت شناخت. البته این عملکرد روسیه پس از درک واقعیت‌های عینی و عملی بود که امارت اسلامی در عرصهٔ حاکمیت قانون، تأمین امنیت سراسری، مبارزهٔ عملی با کشت و قاچاق مواد مخدر، تمرکز به برنامه‌های زیربنایی و اقتصادی و عدم مداخله در امور داخلی کشورهای دیگر از خود در صحنه و عمل نشان داد.

سفارت روسیه در کابل باز است و فعالیت دارد. همچنان سفارت افغانستان در فدراسیون روسیه فعال است و از سوی نمایندگان امارت اسلامی مدیریت می‌شود.

رویکرد روسیه در قبال امارت اسلامی افغانستان، عمل‌گرایانه و بر پایهٔ منافع مشترک منطقه‌یی استوار است. روابط و مناسبات اقتصادی میان دوکشور در حال گسترش است.

در سال ۲۰۲۲ حجم تجارت بین افغانستان و روسیه ۱۷۰ میلیون دالر بود و در سال ۲۰۲۴ به ۱ میلیارد دالر رسید.

امارت اسلامی افغانستان در سال ۲۰۲۲ قراردادی را با روسیه برای واردات سالانهٔ ۲ میلیون تُن گندم امضا کرد و در سال ۲۰۲۴، به ارزش ۸۰ میلیون دالر آرد گندم از روسیه وارد کرد که افغانستان یکی از بزرگ‌ترین خریداران آرد گندم روسیه در آن سال شد. همچنان روسیه به‌عنوان یکی از تأمین‌کنندگان اصلی سوخت (نفت، گاز) برای

افغانستان عمل می‌کند.

مسیر ریلی به‌هم‌پیوسته از روسیه تا حیرتان افغانستان، یکی از امتیازات روسیه برای رسیدن به بازار اقتصادی افغانستان است.

چندین تفاهم‌نامۀ تجاری میان سکتور خصوصی افغانستان و روسیه به امضاء رسیده که تازه‌ترین آن در ۲۱ / ۰۱ / ۲۰۲٦ به ارزش ۱.۵ میلیون دالر میان سکتور خصوصی افغانستان و سکتورخصوصی داغستان روسیه به امضاء رسید. روسیه در طول این چهار سال در هر نشست بین‌المللی که برگزار نموده، از مقامات امارت اسلامی رسماً جهت اشتراک درآن دعوت کرده است.

در ماه ثور سال گذشته، ملا عبدالغنی برادر، معاون اقتصادی ریاست‌الوزرا در رأس هیأتی عالی‌رتبه به شهر کازان روسیه سفر کردند. همچنان سال گذشته شماری از مقامات امارت اسلامی بنا بر دعوت رسمی روسیه، تحت ریاست وزیر زراعت ومالداری در نشست مجمع روسیه و جهان اسلام به آن کشور سفر کردند.

به همین ترتیب، چندین بار مقامات عالی‌رتبۀ روسی به کابل آمدند و نشست‌های دو جانبه و چندجانبه با مقامات امارت اسلامی داشتند.

**روابط افغانستان و چین**

چین نخستین کشوری بود که در دسامبر ۲۰۲۳ سفیر امارت اسلامی را پذیرفت و اعتبارنامۀ آن را آقای شی‌جی پینگ، ریس جمهور چین پذیرفت.

چین سفارت خود را از همان روزهای اول حاکمیت دوبارۀ امارت اسلامی در کابل باز وفعال نگه‌داشت.

وزارت امور خارجۀ امارت اسلامی ششمین نشست سه‌جانبۀ وزرای امور خارجۀ افغانستان ـ چین ـ پاکستان را در شهر کابل به هدف گسترش روابط میان این کشورها برگزار نمود.

مبادلات اقتصادی و تجاری دو کشور در ۲۰۲۳ با افزایش چشمگیر ۱۲۵ درصدی نسبت به سال‌های قبل به ۱.۳ میلیارد دالر رسید. در ۲۰۲۴ صادرات چین به افغانستان مبلغ ۱.۵۴ میلیارد دالر گزارش گردید. وزارت صنعت و تجارت حجم مبادلات تجاری دو کشور در هفت ماه نخست سال جاری را نیز ۵۴۱ میلیون دالر اعلام کرده است.

علاوه بر آن چین از اول دسامبر ۲۰۲۴ مشوق معافیت کامل گمرکی را برای اجناس صادراتی افغانستان به چین در نظر گرفت. همچنان چین بیشترین سرمایه‌گذاری را در بخش استخراج معادن افغانستان نموده است. چین تمایل دارد تا افغانستان را در طرح جاده و کمربند ادغام نماید و اشتراک آقای نورالدین عزیزی، سرپرست وزارت صنعت و تجارت در سومین مجمع جاده و کمربند که در اکتوبر ۲۰۲۳ برگزار گردید، می‌تواند اقدام مقدماتی در این راستا محسوب شود.

چین در سال ۲۰۲۲ برای آسیب دیدگان زلزله در جنوب‌شرق افغانستان ۷.۵ میلیون دالر کمک بشردوستانه کرد. علاوه بر این، سفیر چین درکابل ۱۸ تن مواد غذایی و غیر غذایی و ۲۰۰۰۰۰ دالر را در اختیار جمعیت هلال احمر افغانستان قرار داد.

**روابط افغانستان با کشورهای اروپایی**

پس از حاکمیت دوبارۀ امارت اسلامی در افغانستان در ۲۴ اسد۱۴۰۰ (۱۵ / ۰۸ / ۲۰۲۱)، روابط سیاسی کشورهای اروپایی مانند بسیاری کشورهای دیگر با افغانستان در حالت تعلیق

درآمد. اما تلاش‌های مستمر وزارت امور خارجه باعث شد تا این روابط دوباره احیا شود و حتی زمینۀ سفر مولوی امیرخان متقی وزیر امورخارجۀ امارت اسلامی افغانستان به یکی از این کشور ها انجام یابد.

طبق معلومات ریاست چهارم سیاسی که کشورهای اروپایی حوزۀ کاری این ریاست را تشکیل میدهد، از روزهای نخست حاکمیت دوبارۀ امارت اسلامی در کشور، تماس‌ها و ارتباطات با کشورهای اروپایی برقرار و نیز چندین نشست دوجانبه و چندجانبه با مقامات و نمایندگان ویژۀ این کشورها برگزارشد.

مولوی امیر خان متقی وزیر امور خارجه در سال ۲۰۲۳ سفر رسمی به کشور ناروی داشت.

همچنان براثر تلاش‌های دستگاه دیپلوماسی امارت اسلامی، دفتر نمایندگی هیأت اتحادیه اروپا مقیم کابل در ۲۰ جنوری ۲۰۲۲ ونیز دفتر انکشافی سویس مقیم کابل در ۲۰ مارچ ۲۰۲۵ بازگشایی شدند.

به همین ترتیب روند تداوم همکاری سفارت ایتالیا در کابل و نیز هماهنگی جهت حضور کارمندان تخنیکی سفارت‌های کشورهای فرانسه و جرمنی درکابل از سوی وزارت امور خارجه صورت گرفت که اکنون کارمندان تخنیکی این سفارت‌ها در کابل حضور و فعالیت دارند.

در عین حال، سفارت‌های امارت اسلامی افغانستان درکشورهای ناروی، آلمان، هالند، زیلاند جدید، چک، بلغاریا و هسپانیا فعال و از سوی دیپلوماتان کشور مدیریت می شوند.

همچنان نتیجۀ تلاش‌های عمل‌گرایانۀ نهادهای امارت اسلامی و فراهم کردن سهولت‌ها در گمرکات و شاهراه‌های کشور برای وسایط ترانزیتی، اکنون افغانستان به یک مسیر خوب و مصئون ترانزیتی تبدیل شده است.

مناسبات تجاری افغانستان با کشورهای اروپایی بهبود یافته و در حال حاضر، افغانستان به کشورهای اروپایی صادرات مستقیم دارد. قالین، میوۀ خشک و محصولات زراعتی و نیز سنگ‌های قیمتی از اقلام عمدۀ صادرات افغانستان به بازارهای آلمان و سایر کشورهای اروپایی است.

در ۰۷ / ۰۵ / ۲۰۲۵ اتاق‌های تجارت و سرمایه‌گذاری افغانستان و آلمان توافق‌نامه‌ای به‌هدف فراهم‌کردن زمینه برای شرکت تجار افغان در نمایشگاه‌های آلمان و بهبود صادرات محصولات افغانستان به آن کشور، امضا کردند.

کشورهای اروپایی در چند سال گذشته کمک‌های زیادی برای افغانستان نمودند. ورونیکا بوسکوویچ پوهار، سرپرست اتحادیۀ اروپا در افغانستان، در ۱۱ / ۱۲ / ۲۰۲۵ از کمک و اختصاص ۲۵ میلیون یورو از جانب این اتحادیه به برنامۀ جهانی غذای سازمان ملل در افغانستان خبر داد وگفت که این کمک جدید نشان‌دهندۀ تعهد دوامدار اتحادیۀ اورپا به مردم افغانستان می باشد.

**روابط افغانستان با امریکا**

امارت اسلامی افغانستان براساس اصول سیاست خارجی خویش، خواهان تعامل و روابط در بخش های مختلف با همه کشورهای جهان است.

وزارت امور خارجه با مقامات و نمایندگان ویژۀ امریکا برای افغانستان تماس‌های دیپلوماتیک برقرار کرده است که در نتیجه، برای چندمین بار هیأت امریکایی به هدف مذاکرات مستقیم و تفاهم با مقامات امارت اسلامی، رسماً به کابل سفر نموده‌اند.

در ۲۳ / ۰۸ / ۲۰۲۲ هیأت امریکایی در امور زندانی‌ها به کابل آمد و پس از ملاقات با مقامات امارت اسلامی، آقای محمد بشیر نورزی در بدل پنج زندانی امریکایی براساس حسن تعامل میان دوکشور آزاد شدند.

به همین ترتیب، هیأت امریکایی تحت ریاست آقای آدام بولر، نمایندهٔ ویژهٔ رئیس جمهور امریکا در امور زندانی‌ها در ۱۹ / ۰۲ / ۲۰۲۵ به کابل آمد و پس از ملاقات با مولوی امیرخان متقی وزیر امور خارجه، دو زندانی افغان و دو زندانی امریکایی آزاد شدند.

همچنان هیأت امریکایی تحت ریاست آقای آدام بولر در ۲۳ / ۰۸ / ۲۰۲۵ رسماً به کابل سفر کرد و پس از ملاقات و تفاهم با وزیر امور خارجهٔ کشور، آقای جورج گلزمن، زندانی امریکایی در افغانستان، آزاد و به آنها تسلیم داده شد.

متعاقباً، هیأت امریکایی تحت ریاست آقای آدام بولر طی سفر رسمی به کابل و پس از ملاقات با مولوی امیرخان متقی وزیر امور خارجه، آقای امیر امیری، زندانی امریکایی در افغانستان، به‌عنوان حسن نیت در روابط بین دوکشور، از زندان رها و به آنها تسلیم داده شد.

درعین حال، آقای زلمی خلیلزاد به‌هدف امضای تفاهم‌نامهٔ همکاری میان وزارت معدن افغانستان و کمپنی بین‌المللی دلتا انترنشنلِ عربستان سعودی رسماً به کابل سفر نمود.

همچنان چندین نشست میان هیأت امارت اسلامی افغانستان و نمایندگان امریکا در قطر در ۲۲ / ۰۸ / ۲۰۲۴ درمورد ثبات، امنیت و اقتصاد در افغانستان و نیز آزادسازی دارایی‌های منجمد افغانستان و نیز بازگشایی سفارت افغانستان در امریکا برگزار شد.

افغانستان در حال حاضر مناسبات تجاری نسبتاً خوبی از طریق سکتور خصوصی با امریکا دارد. اقلام صادراتی افغانستان شامل قالین دست‌باف، زعفران، انجیر خشک، قروت و محصولات زراعتی است.

**نتیجه گیری**

این فعالیت‌ها وتلاش‌های دیپلوماتیک در حالی صورت گرفته است که از سوی شماری از کشورها خلاف اصول بین‌المللی بالای امارت اسلامی افغانستان تحریم وضع شده وحدود هفت ملیارد دالر دارایی‌های افغانستان نیز منجمد شده‌اند. همچنان برخی کشورها عمداً به بهانه‌های مختلف، خلاف کنوانسیون‌های تجاری که خود نیز امضاکنندگان آن هستند، مسیر تجارت و ترانزیت را به‌روی افغانستان می‌بستند.

با وصف محدودیت‌های سیاسی و امکانات اندک، وزارت امور خارجه با ارادهٔ قوی و مشورت با رهبری نظام، روابط امارت اسلامی افغانستان با جهان را موفقانه احیاء، تحکیم و گسترش داده است.

این امر به اثبات می‌رساند که داشتن استقلالیت سیاسی، موجودیت ارادهٔ قوی در رهبری نظام و شفافیت در اداره، هماهنگی و اطاعت، احترام به ارزش‌های دینی و تعهد به منافع ملی کشور هر نا ممکن را ممکن می‌سازد.

# د نبوي دولت سیاست او ډیپلوماسي

مفتي نور الله عزام
د بهرنیو چارو وزارت د ډیپلوماسۍ انستیټیوټ رییس

د رسول الله صلی الله علیه وسلم اسلامي دولت یوازې د داخلي نظم، عدالت او سوکالۍ لپاره نه و، بلکې په نړیوالو اړیکو، مذاکراتو او ډیپلوماسۍ کې یې هم بې سارې مثال پرېښود. د نبوي دولت بهرنۍ سیاست د دیني اصولو، اخلاقي ارزښتونو او ستراتیژیک فکر پر اساس و، چې نن ورځ هم د نړیوالو اړیکو، سیاسي خبرو او ډیپلوماتیکو پرېکړو لپاره مهم درسونه لري.

په نننۍ نړۍ کې، چې هېوادونه د سولې، همکارۍ او متقابل احترام په لټه کې دي، د نبوي دولت ډیپلوماسۍ اصول، هوښیاري، روښوالی، اخلاق، انصاف او د شرایطو مطابق تګلارې یې لوی ارزښت لري، چې په دې مقاله کې یې مهمو ټ ګلارو ته د بېلګې په ډول لنډه او ځغلنده کتنه کېږي:

## دعوت او جهاد

رسول الله صلی الله علیه وسلم د یوه سنجول شوي او پیاوړي پلان له مخې لومړی د اسلامي دولت داخلي ثبات ټینګ کړ، مدینه منوره له هغو عناصرو پاکه کړه، چې ژمنې یې ماتولې او ناامني یې رامنځته کوله. وروسته یې د مکې له مشرکانو سره د حدیبیې سوله وکړه او همدارنګه د خیبر په فتحې سره یې له شمالي لوري ګواښونه پای ته ورسول.

کله چې کورني او نږدې بهرني خطرونه له منځه ولاړل، نو نبوي دولت له خپلو پولو بهر د دعوت او اړیکو نوی پړاو پیل کړ، د سیمې او نړۍ مشرانو ته لیکونه واستول او د اسلام بلنه یې ورکړه. دا بهیر د هغه وخت د دود له مخې د اوسني عصر د استازو او ډیپلوماتیکو اړیکو په څېر پر مخ وړل کېده.

د نبوي دولت بهرنۍ سیاست په بنسټیز ډول پر دعوت ولاړ وو که چا اسلام مانه، د اسلامي ټولنې غړی کېده؛ که یې نه مانه، جزیه به یې ورکوله؛ او که یې جګړه غوره کوله، نو مقابله ورسره کېده. په همدې تګلارې اسلام په چټکۍ خپور شو، د عربو ټاپووزمه فتحه شوه او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ژوند په وروستیو کلونو کې ګڼ خلک او وفدونه اسلام ته داخل شول.

## بهرنیو هېوادونو ته د سفیرانو لېږل

د سفارت مفهوم له اسلام مخکې هم په مکه کې دود و او په قریشو کې دا دنده ځانګړو کورنیو ته سپارل کېده؛ خو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې د یو ځانګړي دولت د استازي په توګه د استازي چارې د سفیر، رسول او بَرید تر نومونو لاندې نوي پړاو ته داخلې شوې او په دې توګه نبوي دولت د لیکونو، شخصي اړیکو او رسمي استازو له لارې خپل پیغام نورو ته رساوه، تردې چې استازولي یوه مهمه او منظمه دنده وګرځېده او په ځانګړې پاملرنې ترسره کېده. تاریخي سرچینې شایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له قبایلو، سیمه‌ییزو مشرانو او نړیوالو واکمنانو سره سلګونه لیکونه، تړونونه او موافقې ترسره کړې، چې دا د اسلامي دولت د فعال، منظم او اغېزمن بهرني سیاست څرګندونه کوي.

## د نبوي دولت د سفیرانو ځانګړنې

د سیرت له مخې، رسول الله صلی الله علیه وسلم شاوخوا پنځلس سفیران بیلابېلو پاچاهانو

ته واستول. له حارث بن عمیر الازدي پرته، چې نوموړی د بُصری پر لور په لاره کې شهید شو، نورو ټولو خپل ماموریتونه په بریالیتوب ترسره کړل. دغه سفیران وتلي، بااعتماده او د لوړو اخلاقو څښتنان وو، چې د روم، فارس، مصر، حبشې او د عربو د بېلابېلو سیمو واکمنانو ته واستول شول. د دوی ټاکنه د وړتیا، امانت او بلاغت پر بنسټ وه، څو د اسلام پیغام په اغېزمن او مناسب ډول ورسوي.
رسول الله صلی الله علیه وسلم ځینې لیکونه د عربي قبایلو مشرانو ته هم استولي دي. ظبیان بن مرشد الدوسي یې د بني بکر بن وائل پر لور ولېږه، جریر بن عبدالله البجلي یې ذالکلاع بن ناکور ته واستاوه، او عمرو بن امیه الضمري یې مسیلمه کذاب ته ولېږه. دا اقدامات ښیي چې نبوي دولت له قبایلو سره د اړیکو په ټینګولو او د دعوت په رسولو کې هم منظم او هدفمند ډیپلوماټیک تعامل درلود.
دغه لیکونه رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیبیې له سولې وروسته، د شپږم هجري کال په پای او ځینې یې د اووم کال په پیل کې ولېږل. د دې اقدام مهمه پایله دا وه؛ چې د اسلام پیغام د هغه وخت مطابق د نړۍ تر ټولو لوی قدرتونو ته ورسېد او دا خبره څرګنده شوه، چې اسلام یو نړیوال دین دی او محمد صلی الله علیه وسلم د الله وروستی استازی دی.
رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلو سفیرانو لپاره داسې تګلاره غوره کړې وه، چې نن هم د ډیپلوماټیکو اصولو له مخې ارزښت لري. سفیران به په دقت ټاکل کېدل او د پوهې، فصاحت، ښه اخلاقو، مناسب لباس او لوړ اهلیت څښتنان وو، څو د اسلامي دولت غوره استازیتوب وکړي. دا استازي په علم، وینا او اداره کې وتلي کسان وو او د همدې ځانګړنو له امله یې د اسلام پیغام په اغېزمن او باوقاره ډول تر نورو ورسوه.

## د سفیرانو امان (ډیپلوماټیک مصؤنیت)

په نبوي دولت کې سفیرانو ته ځانګړي حقوق ورکړل شوي وو، چې له مهمو یې «امان» و، چې په معاصره اصطلاح کې ورته ډیپلوماټیک مصؤنیت ویل کېږي. د دې اصل له مخې به سفیر، د هغه کورنۍ او ملګري په بشپړ امنیت کې وو.
اسلام د بهرنیو استازو درناوی او ساتنه لازم ګڼلې ده. رسول الله صلی الله علیه وسلم ته چې هر څومره سفیران راغلي، هېڅ یو ته یې زیان نه دی رسولی، حتی که هغوی توندي او نامناسبې خبرې هم کړې وې. دا د ډیپلوماټیکو اصولو د عملي درناوي روښانه بېلګه ده.
که څه هم ځینو نورو واکمنانو د اسلامي استازو سره ناوړه چلند وکړ او ان ځینې یې شهیدان کړل، خو نبوي دولت تل د سفیرانو د مصؤنیت اصل مراعات کړ. دا تګلاره د اسلامي ډیپلوماسۍ د عدالت، زغم او اصولي تعامل څرګندونه کوي.
په ټولیزه توګه، د نبوي دولت ډیپلوماټیک اصول، د سفیرانو امان، دینی ازادي او درناوی د اسلامي ډیپلوماسۍ بنسټ جوړوي او د وخت د نړیوالو اړیکو د معیارونو سره مطابقت لري.

## د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سفیرانو ځانګړتیاوې

د نبوي سفیرانو ټاکنه د ځانګړو صفاتو پر بنسټ ترسره کېده، چې دلته یې له مهمو یادونه کېږي:

- **ښکلي څېره او نوم:** استازي به ښکلي څواني او ښه نوم(شهرت) درلود، لکه دحیه الکلبي رضی الله عنه چې په ښایست کې د بېلګې وړ و.
- **هوښیاري او پوهه:** استازي به هوښیار، معقول او د سیمې په حالاتو پوه ول، لکه عمرو بن العاص

او عبدالله بن حذافه.

o **فصاحت او بلاغت:** استازي به فصيح او مدلل وو، لکه حاطب بن أبي بلتعه چې په مقوقس يې خبرو اغېز وکړ.

o **د سيمې ژبې سره بلدتيا:** استازي به د هغه ځای د خلکو ژبه زده کړې وه، ترڅو د پيغام تشريح په مناسبه توگه وکړي.

دې ځانگړتياوو به داډ څرگندوه، ترڅو استازي د اسلامي دولت غوره استازيتوب وکړي او د اسلام پيغام په ښه او اغېزمن ډول ورسوي.

**د رسول الله صلی الله عليه وسلم د ليکونو ډيپلوماتيکې ځانگړتياوې**

رسول الله صلی الله عليه وسلم به خپل پيغام د نړۍ پاچايانو او مشرانو ته د ليکونو له لارې په ډيپلوماتيکه، نرم او اغېزناکه بڼه وړاندې کاوه. دا ليکونه به لنډ، واضح او له تشنج څخه پاک وو او د مؤثرې اړيکې اصول به يې مراعتول.

د بېلگې په توگه د روم پاچا هِرقل ته يې، د لېږل شوي ليک ځانگړتياوې داسې وې:

o **د مخاطب مقام ته درناوی:** پاچا ته د هغه د لوړ مقام په پام کې نيولو سره خطاب شوی و، لکه «عظيم الروم» چې دا د ډيپلوماتيک ادب يوه مهمه برخه ده.

o **په متوازن ډول د اسلام سپېڅلتيا څرگندول:** په دغه ليک کې لومړی د رسول الله نوم ياد شوی او بيا د پاچا نوم، ترڅو څرگنده شي چې اسلام پرته له توهين او فشاره لوړ پيغام لري.

o **لنډ او روښانه متن:** د ليک پيغام ساده او په نرمۍ وړاندې شوی و، څو لوستونکي يې په اسانۍ درک کړي.

o **هځونه او خبرداری په معتدل ډول:** ليک دواړه پيغامونه درلودل؛ مسلمان شه، په امن کې به اوسې (هځونه)، که انکار وکړې، د عمل پايلې به درته څرگندې شي (خبرداری)، خو دغه دواړه پيغامونه په نرمه او متوازنه ژبه وړاندې شوي وو.

o **د مخاطب د حالاتو سره سمون:** هر ليک د هغه قوم او مشر د شرايطو مطابق ليکل کېده، ترڅو د شخړې او فشار(هارډ پاور) مخه ونيسي.

o **دقت او ژورتيا:** الفاظ به لږ کارول کېدل؛ خو معنا به يې ژوره او جامع وه، لکه «اسلِم تسلَم»؛ يعنی مسلمان شه نو په امن کې به اوسې.

په ټوليزه توگه، د رسول الله صلی الله عليه وسلم ليکونه د ډيپلوماټيکې هوښيارۍ، نرمۍ او ستراتېژيک فکر هغه ښکلې بېلگې وې، چې د احترام، بلاغت او مؤثره اړيکو اصول به يې په بشپړه مانا مراعتول.

**د نبوي ليکونو تگلاره**

رسول الله صلی الله عليه وسلم په خپل ژوند کې مختلفو هېوادونو، قبائلو او خلکو ته بېلابېل ليکونه استولي دي، چې په ځينو ليکونو کې به څو موضوعات شامل وو، ځينو کې به يوازې د اسلام بلنه وه، ځينو به يې د جزيې يا د اهل ذمه حقونه تشريح کول او حتی ځينو به يې شرعي احکام بيانول.

خو د ترتيب له مخې يې معمولاً تگلاره داسې وه:

o **د ليک پيل:** د ليک په پيل کې به يې خپل نوم او صفت ذکر کاوه: «من محمد رسول الله» يعني د الله رسول محمد له خوا. بيا به د مخاطب نوم او لقب ذکر کاوه، لکه «عظيم الروم» به يې قيصر لپاره، «صاحب مصر» به يې د مقوقس لپاره او «ملک الحبشة» به يې د نجاشي لپاره کاروه.

o **اسلام بلنه:** په ليک کې به يې د اسلام پيغام په نرمۍ او مؤثره بڼه وړاندې کاوه: «إني أدعوک إلی الله وحده» يعني زه تا يواځې د الله لورې ته رابلم.

o **د اهل ذمه جزيه:** هغوی ته چې په خپل دين به پاتې وو، ليکل: «ومن بقي علی دينه فعليه

الجزية» – څوک چې په خپل دین پاتې کېږي، نو جزیه پرې لازمه ده.

o **د شرعي احکامو تشریح:** ځینې لیکونه یې د دیني او حقوقي مسایلو وضاحت لپاره ول، لکه د بحرین والي عمرو بن حزم ته یې په لیک کې شرعي احکام روښانه کړي وو.

o **لیک پای او سلام:** لیکونه به یې د حمد او دعا وروسته پای ته رسول، «امابعد» یا «هذالکتاب» به یې کاروه او په پای کې به یې سلام لیکلی و. ځینې لیکونو به یې نېټه او د استازي نوم هم درلود.

په ټوله کې ویلی شو؛ چې د نبوي لیکونو کړنلاره د ډیپلوماتیک ادب، احترام او نرمۍ اصولو په پام کې نیولو سره وه او د مخاطبانو سره یې اړیکې په متوازن او اغېزناک ډول پرمخ وړلې .

**د نبوي دولت آرشیف «بیت القراطیس»**

رسول الله صلی الله علیه وسلم به د هر لیک د استولو پر مهال یوه نسخه ځان سره ساتله او ځینې لیکونه به د صحابو په امانت خوندي ساتل کېدل لکه: له عبدالله بن عباس رضي الله عنه سره ځینې نسخې خوندي وې او وروسته یې ځینې ابوبکر بن حزم او عروة بن الزبیر ته ورسېدې. د حضرت عمر رضی الله عنه په خلافت کې د لیکونو ساتنه منظم شوه او د حضرت عثمان له کور سره نږدې ځانګړی ځای ورته جوړ شو، چې «بیت القراطیس» به ورته ویل کېده، چې د اسلامي دولت رسمي ارشیف او د اسنادو د ساتنې دفتر و.

رسول الله صلی الله علیه وسلم پوهېده چې رسمي لیکونه باید ټاپه ولري، نو خپله ځانګړې ټاپه یې جوړه کړه او امر یې وکړ چې هیڅوک دې ته ورته ټاپه نه جوړوي. دغه ټاپه معیقیب بن ابي فاطمه ته سپارل شوې وه او د هغې نقش داسې و: «الله، رسول، محمد». ځینې لیکونه حتی مهر بند او یوازې د ترلاسه کوونکي لپاره وو، څو د لیک محرمیت خوندي پاتې شي. د مثال په توګه: رسول الله صلی الله علیه وسلم یو ټاپه شوی او بند شوی لیک عمرو بن العاص او عبد ابني الجلندي ته واستوه، چې هغوی وروسته بیا د اړتیا په مهال په مناسب وخت کې ولوسته.

دا کړنلاره د اسلامي دولت د اداري شفافیت، د رسمي اسنادو اعتبار، او د محرمیت ساتنې یوه پیاوړې بېلګه ده، چې د شرعي اصولو او هم د اداري نظم سره بشپړ مطابقت لري.

**د بهرنیو وفدونو هرکلی(ډیپلوماتیک تشریفات)**

د هجرت په نهم کال، مدینې منورې د نړۍ پام ځان ته راواړوه، د سیمې او نورو هېوادونو ډېرو وفدونو د نبوي دولت سره د اړیکو ټینګولو لپاره مدینې ته سفر وکړ. نبوي دولت د هغه وخت منل شویو عرفونو سره سم، استازو ته لوړ هرکلی، ښه تعامل او تشریفاتي خدمات برابر کړل، څو د امن او اعتماد فضا رامنځته شي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم به بهرني استازي په غوره لباس او ښکلې زینت سره هرکلی کاوه، صحابو ته به یې د ښه لباس اغوستلو امر کاوه او د مهمو کسانو لپاره ځانګړې درناوی څرګندوه، لکه څرنګه چې هغه خپل څادر نږدې وفدونو ته هوار کړ او پخپله ورته نږدې کېناست، چې دا چلند د وقار او مقام ته په کتو د درناوي ښکارندوی کوي. د بهرنیو وفدونو استوګنځي او خواړه هم د تشریفاتو برخه وه. ځانګړي کورونه لکه د رمله بنت الحارث او عبدالرحمن بن عوف کورونه د مېلمستون په توګه ځانګړي شوي وو او مېلمنو ته به مناسب خوراکونه برابرول کېدل. چې په دې سره د مهمو مېلمنو راحت او د نبوي دولت د نیکنامۍ ساتنه تضمین شوه.

رسول الله صلی الله علیه وسلم به بهرنیو وفدونو ته د خدای په امانۍ پر مهال ډالۍ ورکولې، اګر

که وفدونه به ایمان لرونکي وو یا نه او ځینې وخت به نقدي ډالۍ هم ورکړل شوې. دا د نبوي دولت د ډیپلوماتیکو تعاملاتو یوه مهمه برخه وه او صحابو ته یې وصیت کړی و چې د وفدونو سره په هغه ډېر چلند وکړي، لکه څنګه چې به هغه کاوه.

په دې ډول، د اسلامي دولت تشریفاتي تعاملات د وقار، شفافیت، او د بهرنیو اړیکو د سمون تضمین شو.

**د نامسلمانو سره تعامل**

رسول الله صلی الله علیه وسلم له ټولو نامسلمانو(کافرانو) سره، حتی له حربیانو، سره د خبرو او تعامل دروازه پرانیستې ساتله. هغه به تل په نرمه لهجه، حکمت، او غوره اخلاقو سره خلک د اسلام لور ته رابلل، لکه څنګه چې قرآن ورته لارښوونه کوي:

«ادعُ إلى سبيل ربك بالحكمة والموعظة الحسنة وجادلهم بالتي هي أحسن» (سورة النحل: ۱۲۵)

د خپل رب لارې ته په حکمت او ښه نصیحت بلنه وکړه او د خلکو سره په غوره توګه بحث وکړه.

**نرمې خبرې او ښه تعامل**

رسول الله صلی الله علیه وسلم به د بهرنیو وفدونو سره هم په نرمه لهجه خبرې کولې، د هغوی دلائلو ته به غوږ نیوه او د هغوی لمونځ او دودونه به یې په احترام منل. د نجران د مسیحي وفد مثال ښایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دوی ته د لمانځه اجازه ورکړه او بیا یې د اسلام بلنه ورکړه.

**د دښمن ستاینه**

رسول الله صلی الله علیه وسلم به د دښمن غوره صفتونه ستایل، لکه: د خالد بن الولید رضي الله عنه له ایمان راوړلو وړاندې پوځي وړتیا او د حبشي پاچا نجاشي انصاف او صداقت. لنډه دا چې هغه به د ښه اخلاقو، حکمت او پوهې درناوی کاوه، حتی که دښمن یې هم و.

**ښېګڼه او مرسته**

هغه به له هغو کافرانو سره ښېګڼه کوله چې له مسلمانانو سره په جګړه کې نه وو او اړمنو ته به یې مرستې رسولې. د مکې وچکالي پر مهال یې ابوسفیان او صفوان بن امیه ته پېسې او خوراکي توکي ولېږل، څو د بې وزله خلکو اړتیاوې پوره شي.

**د مشرانو او استازو درناوی**

رسول الله صلی الله علیه وسلم به د کافرانو مشرانو سره ښه مدارات کاوه، هغوی ته به درناوی ښودل او صحابو ته به یې لار ښوونه کوله چې له درناوي او نرمه تګلارې کار واخلي. د کِسرا(ایران پاچا) له استازو سره تعامل د دې ستر ډیپلوماتیک چلند مثال دی، چې له تهدید او زور پرته، د خبرو او ډیپلوماتیکې هوښیارتیا له لارې د حق ثبوت ورکړل شو.

**کافرانو سره تړونونه کول**

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بهرني سیاست یوه مهمه برخه د تړونونو او تعهداتو کول وو. دا تړونونه د مدینې د داخلي سیاسي وضعیت، د قبائلو دودونو او د وخت او ځای شرایطو ته په کتو سره ترتیب شوي وو.

**د حدیبیې تړون**

د حدیبیې د سولې تړون کې رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه شرطونه ومنل چې د ټولې عربې جزیرې قبایلو سره یې د تړونونو دروازه خلاصه کړه، دې تړون لاندې لاسته راوړنې درلودې:

- دین په قبایلو کې خپور شو.
- یهودانو مرکز خیبر د امنیت لاندې پاتې شو، څو د مدینې پر وړاندې ایتلاف جوړ نکړي.
- مسلمانانو د دې تړون د موقع نه په استفاده

نړیوالو مشرانو ته د اسلام بلنې لیکونه واستول.

- په پایله کې مکه معظمه پرته له کومې سترې جګړې فتحه شوه او خلک ډله‌ډله مسلمانان شول.

**نور بېلابېل تړونونه**

ځینې تړونونه به دفاعي، ځینې هجومي او ځینې به اقتصادي وو، لکه: د ځمکې محصول ورکول او داسې نور

خو ځینو بیا ځانګړي شرایط هم درلودل، لکه:

- «النصح للمسلمین» – د مسلمانانو سره ښېګڼه کول
- «وضیافتهم» د مسلمانانو مېلمستیا کول
- «السماح لهم باستعمال الماء» – د اوبو کارولو اجازه
- «السماح لهم بالمرور من الطریق» – د لارې اجازه

**د تړونونو ځانګړنې**

تړونونه به په ساده او روښانه الفاظو لیکل شوي وو، له سترو القابو او خرافاتو به پاک وو، یوازې د متعاقدینو نومونه او د تړون شرایط به پکې ذکر شوي وو. همدارنګه په تړونونو کې به د الله او رسول اطاعت شرط وو، لکه:

- «طاعة الله ورسوله»
- «الإسلام وطاعة الله ورسوله»
- «الإسلام إقامة الصلاة وإيتاء الزكاة»

حتی په ځینې تړونونو کې به د مشرکانو سره د اړیکو پرېکون هم شامل وو: «مفارقة المشركين»

خو ځینو تړونونه به داسې هم وو، چې هیڅ شرایط به یې نه لرل، دې لپاره چې قبایل خپل دودیز تعاملات وساتي.

همدارنګه په تړونونو کې به ډاډ و، که څوک د ظلم یا جګړې سره مخ شي، نو مسلمانان به یې مرسته کوي.

**د تړونونو موخه**

رسول الله صلی الله علیه وسلم غوښتل د قبایلو او اسلامي دولت ترمنځ د باور او امنیت اړیکې ټینګې کړي. دا تګلاره د اسلامي دولت دفاعي ستراتیژي وه، چې په دې سره د سیمې قبایل یا د مسلمانانو ملاتړي شول او یا هم بې پرې پاتې شول. د دې ستراتیژي له برکته مسلمانانو وکولای شول، د مدینې څخه تر نهه سوه کیلومتره واټن پورې د تبوک غزا ترسره کړي او د رومي امپراتورۍ سره مقابله وکړي.

**له دښمن سره مذاکرات کول**

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بهرني سیاست یوه بله مهمه تګلاره د دښمنانو سره مذاکرات کول وو. هغه د رسالت د اهدافو د ترلاسه کولو یا د مخالفو لورو سره د تړون جوړولو لپاره همدا اصل کاروه.

**د مذاکراتو تګلارې**

۱. مستقیمه تګلاره:

- مخامخ خبرې کول، لکه د حدیبیې په سوله کې.
- د خبرو اترو لپاره ځانګړي کسان ټاکل.
- مقابل لوري ته په وضاحت او بلاغت سره پیغام رسول.

۲. غیر مستقیمه تګلاره:

- د لیکونو یا نورو واسطو له لارې خبرې کول.

**د خبرو اترو اصول**

- نرمې لهجه کارول، تند او تېزې خبرې نه کول.
- مقابل لوري ته د خبرو پوره وخت ورکول.
- د حالاتو او شرایطو سره سم موقف بدلول: کله نرم، کله کلک. . .
- د مذاکراتو هدف ته ژور پام کول، نه یوازې خبرې کول.

**د مذاکراتو بېلګې**

۱. حدیبیې سوله

رسول الله صلی الله علیه وسلم د مسلمانانو د

حالاتو او د قریشو د غوښتنو په نظر کې نیولو سره ځینې تنازلات ومنل، کله چې قریشو سهیل بن عمرو واستاوه، رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل:
أراد القوم الصلح حین بعثوا هذالرجل» (خلک د سولې اراده لري، ځکه یې دا سړی راولېږه)
دا ښیي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د مقابل لوري په مهارتونو او نیت په سمه توگه پوهېده.
۲. طائف او بنو ثقیف
د طائف او بنو ثقیف مذاکرې په وخت بیا سخت موقف غوره شو، ځکه دا مهال هدف یوازې د سولې رامنځته کول نه وو، بلکې د دغه قبیلې د اسلام لار ته راوستل هم وو. تردې چې د بنو ثقیف غوښتنې (د لمونځ معافیت، د زنا اجازه، او د «لات» خدای ساتنه) په کلکه رد شوې او برعکس رسول الله صلی الله علیه وسلم خالد بن الولید، ابوسفیان او مغیرة بن شعبه واستول ترڅو «لات» بت مات کړي.

**د نبوي دولت د ډیپلوماتیکو لاربښوونو مهم درسونه او پایلې**

۱. په بهرنیو اړیکو کې د نړیوال عرف مراعات

- استازي (سفیران) حتی د جگړې پر مهال هم مصؤنیت لري.
- رسول الله صلی الله علیه وسلم د مسیلمه کذاب استازو ته د هغه وخت د نړیوال عرف له مخې حقوق ورکړل.
- اسلامي مشر باید د خپل وخت نړیوال اصول او دودونه د شریعت په اډانه کې مراعات کړي، ترڅو خپلو موخو ته ورسېږي.

۲. د سفیرانو ځانگړې صفات
مسلمان سفیر باید لاندې ځانگړنې ولري:

- قوي ایمان او سالمه عقیده.
- د نظام او اهدافو سره وفاداري.
- ښه بڼه او شخصي جاذبه.
- هوښیارتیا او ځیرکتیا.
- د کوربه هېواد په تړاو معلومات.
- د کوربه هېواد د ژبې زده کړه.
- فصاحت او د مذاکراتو مهارت.
- پیاوړې اراده او جرئت.
- امانتداري او راز ساتنه.
- د بسائینې وړ دیني پوهه.

۳. د رسمي لیکونو او تړونونو اصول

- رسمي لیکونه باید ټاپه (مهر) ولري.
- مهم او حساس موضوعات باید محرمانه وساتل شي.
- د هر لیک یوه کاپي باید د لېږونکي اداري سره خوندي پاتې شي.
- په لیکونو کې دې ډیپلوماتیک اصول او غوره ادبیات مراعات شي.

۴. تشریفات او اداب

- د بهرني وفد لپاره وړ استوگنځای، خواړه او درناوی برابرول.
- په تشریفاتي چلندونو کې د خپل نظام ښه استازیتوب کول.

۵. ډالۍ ورکول او منل

- د بهرني وفد د تگ پر مهال ډالۍ ورکول د نبوي تگلارې برخه وه.
- د نامسلمانو ډالۍ منل روا دي، البته چې د مسلمانانو په زیان نه وي.

۶. له نامسلمانو دولتونو سره اړیکې

- د مؤمن او کافر ترمنځ د زړه نږدېوالی (ولاء) ممنوع دی.
- خو نېکي، عدالت، مدارات او معاملات روا دي (پرته له محاربینو).

- اسلامي مشر باید له نورو ملتونو سره د سولې او متقابلو ګټو پر بنسټ تعامل وکړي.

۷. د نامسلمانو استخدام

اسلامي دولت کولای شي نامسلمان وګړي په مناسبو دندو وګماري، له هغوی خدمت واخلي او د هغوی حقوق تأمين کړي.

۸. په مذاکراتو کې د نظام پر مصلحت تمرکز

د صلح حديبيه له مخې، رسول الله صلی الله علیه وسلم د مسلمانانو د ژوند د ساتنې لپاره د سولې تګلاره غوره کړه او جګړه يې ونه کړه.

۹. پر اسلامي ارزښتونو ټينګ درېدل

- د بنو ثقيف له پېښې ښخه ښرګندېږي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د اسلامي اصولو خلاف هېڅ ډول معامله ونه منله.
- اسلامي مشر باید د دین پر اساسي ارزښتونو ټینګ ودرېږي، حتی که شرایط سخت وي.

## سرچيني


۱. سيرة ابن هشام، ټوک ۲، مخونه: ۵۹۴، ۶۰۷، ۱۶۴.

۲. الطبقات لابن سعد، ټوک ۱، مخونه: ۱۷۶، ۲۶۲، ۲۷۳، ۲۸۸، ۳۱۶، ۴۷۵.

۳. تاريخ الطبري، ټوک ۲، مخونه: ۶۴۹، ۹۰.

٤. الرحيق المختوم، مخونه: ۲۲۳، ۳۴۸، دارالسلام، رياض.

۵. صحيح البخاري، کتاب اللباس (۵۸۷۷)، کتاب الجهاد والسير (۲۵۸۲)، کتاب الشروط (۲۷۳۱)، کتاب الجنائز (۱۲۹۰).

٦. الاصابة لابن حجر، ټوک ۱، مخ ۷۷۳.

۷. البداية والنهاية، ټوک ۳، مخ ۱۶۱.

۸. شرح کتاب السير الکبير للسرخسي، ټوکونه: ۱ (۷۰)، ۴ (۷۶)، ۵ (۵)، دارالکتب العلمية، بيروت.

۹. المسند للامام احمد، ټوک ۴، مخ ۷۵.

۱۰. سنن ابن ماجه، ټوک ۲، مخ ۱۲۲۳، الادب، حديث ۳۷۱۲.

۱۱. الدلائل للبيهقي، ټوک ۵، مخ ۳۶۵، عن جابر، في شعب الايمان.

۱۲. تاريخ الاسلام للذهبي، ټوک ۱، مخ ۲۹۳.

۱۳. السيرة النبوية لابن کثير، ټوک ۳، مخ ۵۰۸.

۱۴. المبسوط للسرخسي، ټوک ۱۰، مخ ۹۲.

۱۵. کتاب الاموال لأبي عبيد، حديث ۶۴۴.

# سفیر در اسلام و نقش آن در دیپلوماسی اسلامی

مفتی ادریس رحمتی
عضو دفتر سخنگو وزارت امور خارجه

**واژگان کلیدی: دیپلوماسی، سفیر، اسلام، اصول دیپلوماسی**

**چکیده**

یکی از ویژگی‌های دین اسلام این است که به تمام ابعاد و جوانب زندگی بشر توجه نموده است و هیچ بخشی را مغفول نگذاشته است. دیپلوماسی در اسلام جایگاهی مهم و اساسی دارد و یکی از ارکان حیاتی آن، نظام سفارت و اعزام نمایندگان ویژه به سایر کشورها برای برقراری روابط، دادوستد، تعامل، مذاکره و حفظ صلح است. این مقاله با استناد به کتاب «الإسلام والدبلوماسية» نوشتهٔ دکتور محمد حبش، منابع فقهی، سیرت نبوی و سایر مطالعات اسلامی، به بررسی مفهوم سفیر در اسلام، جایگاه آن در تاریخ، ویژگی‌های یک سفیر اسلامی، اصول دیپلوماسی اسلامی و مقایسهٔ آن با نظام‌های دیپلوماتیک معاصر می‌پردازد. با مطالعهٔ این پژوهش، مشخص می‌شود که اسلام یک نظام دیپلوماتیک منظم و اخلاق‌مدار را پیشنهاد داده است که بسیاری از اصول آن در نظام‌های دیپلوماتیک امروزی نیز مشاهده می‌شود.

**مقدمه**

دیپلوماسی به‌عنوان یکی از ارکان اساسی مدیریت روابط بین‌الملل، از دیرباز مورد توجه تمدن‌های مختلف بوده است. اسلام، به‌عنوان دین جهانی، تمدن پویا و آیین کامل از همان آغاز بر اهمیت تعاملات بین‌المللی و روابط نیک و مسالمت‌آمیز با کشورهای منطقه و جهان تأکید داشته‌است. یکی از مهم‌ترین ابزار این روابط، سفارت و اعزام نمایندگان رسمی برای مذاکره، انعقاد معاهدات، برقراری صلح و گسترش روابط بوده است.

پیامبر اسلام صلی‌الله‌علیه‌وسلم نخستین بنیان‌گذار دیپلوماسی اسلامی بود و سفیرانی را به امپراتوری‌های بزرگ آن زمان، از جمله روم، ایران و حبشه اعزام کرد. در دوران خلفای راشدین، امویان و عباسیان، دیپلوماسی اسلامی توسعه یافت و اصولی برای انتخاب سفیران، وظایف آنان و حقوق دیپلوماتیک آنان تعیین شد. در این مقاله، ابتدا به تعریف و مفهوم دیپلوماسی و سفیر در اسلام پرداخته شده و سپس، ویژگی‌های آن، جایگاه تاریخی سفیران اسلامی و اصول دیپلوماسی اسلامی بررسی می‌شود.

قبل از این‌که به مفهوم سفیر و جایگاه تاریخی آن بپردازیم، بهتر است دیپلوماسی را نیز تعریف نموده و با این واژه بیشتر آشنا شویم:

**تعریف دیپلوماسی**

این واژه را معجم اللغة العربية المعاصرة چنین تعریف می‌کند: «دیپلوماسی فنی است که به‌وسیلهٔ آن روابط بین‌المللی مثل مذاکره، امضای معاهدات و توافقنامه‌ها اجرا و عملی می‌شود.» (معجم اللغة العربية المعاصرة، ج۱، ص ۷۲۳)

یکی از قدیمی‌ترین تعریف‌های دیپلوماسی، تعریفی است که صحابی جلیل‌القدر حضرت معاویه‌بن ابی سفیان رضی الله عنه به آن پرداخته است:

«اگر میان من و مردم رشته‌ای باشد، هرگز آن را پاره نمی‌کنم؛ اگر آنها رشته را شل کردند، من آن را محکم می‌کنم و اگر محکم کردند، من آن را شل می‌کنم.»

این تعریف دیپلوماسی، تعریف دقیق، جامع و فراگیر است که دیپلوماسی را خیلی زیبا و شگفت‌انگیز وصف نموده‌است. در این تعریف، دیپلوماسی به انعطاف، دقت، نرمی و ابزاری برای رسیدن به‌اهداف و استمرار روابط و نگسستن آن، تعبیر شده است.

**۱. مفهوم سفیر در اسلام**

در ادبیات اسلامی، واژهٔ «سفیر» معادل با نمایندهٔ دیپلوماتیک امروزی است که وظیفه دارد پیام‌های یک دولت یا امت را به دیگر کشورها برساند و در مذاکرات دیپلوماتیک شرکت کند. در قرآن کریم و سنت نبوی، بر اهمیت گفت‌وگو و تعاملات مسالمت‌آمیز با دیگر ملت‌ها تأکید شده است. از آن‌جایی که اسلام دین صلح و ثبات است و همواره پیروانش را به صلح فرا می‌خواند و آن را به‌خوبی تعبیر کرده‌است، می‌فرماید: «والصلح خیر: آشتی کردن بهتر است.» (سورة النساء: ۱۲۸)؛ لذا اسلام به‌کسانی که پیام‌آور صلح هستند نیز اهمیت می‌دهد. در آیهٔ دیگر، خداوند متعال خطاب به‌رسول گرامی خود چنین می فرماید:

**«وَإِن جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ» (سورة الأنفال: ٦١)**

**و اگر به صلح گرایش یابند، تو [نیز] به آن بگرای و بر خداوند توکّل کن بی گمان او شنوای داناست.**

این آیه بر لزوم پذیرش صلح و تلاش برای ایجاد روابط دیپلوماتیک بر اساس حسن نیت و فراهم‌نمودن زمینه‌های آن تأکید دارد. از منظر فقهی، بسیاری از مذاهب اسلامی، حضور سفیران را به عنوان یک اصل در روابط بین‌الملل پذیرفته و شرایط خاصی برای آن در نظر گرفته‌اند. در اسلام، سفیر مزایا و خصوصیات زیادی دارد.

**۲. ویژگی‌های سفیر اسلامی**

از آن‌جا که سفیرِ یک کشور، نمایندهٔ آن کشور است؛ لذا نماینده باید ویژگی‌های فراوانی داشته باشد. آن‌حضرت صلی‌الله علیه‌وسلم در انتخاب سفیران و نمایندگان بسیار حساس بودند و افرادی را به‌عنوان سفیر می‌فرستادند که بتوانند به‌نحوی احسن از ایشان نمایندگی کنند. این روند بعدها در میان خلفا و رهبران اسلامی ادامه یافت، تا جایی که سفیران کشورهای اسلامی هنگام دیدار با سران کشورهای غیر اسلامی حتی از لباس‌های مخصوص استفاده می‌کردند. امروزه نیز برهمین اساس، سفرای کشورها برای یک‌دیگر معرفی می‌شوند و بعد از تأیید و تصدیق، تعاملات میان دو کشور آغاز می‌شود.

نویسندهٔ کتاب «الإدارة في عصر الرسول صلی الله علیه وسلم» تمام شرایط و اصول سفیران نزد آن‌حضرت صلی‌الله‌علیه‌وسلم را بیان داشته و می‌نویسد: پیامبر صلی‌الله‌علیه‌وسلم در انتخاب سفیران و نمایندگان، موضوعاتی را مدنظر قرار داد که از عرف و عادت‌های مروجِ دیپلوماسی معاصر، بیرون نیست. (کرمی، أحمد عجاج، ص ۱۳۰)

بر اساس منابع اسلامی، سفیران باید واجد ویژگی‌هایی باشند که شامل موارد زیر است:

۱. دانش و حکمت: آگاهی از اصول دیپلوماسی، سیاست و احکام اسلامی؛

۲. امانت‌داری و صداقت: پابندی به اصول اخلاقی و عدم خیانت در انتقال پیام‌ها؛

۳. قدرت بیان و متانت: توانایی بیان دیدگاه‌ها و دفاع از منافع امت اسلامی؛

۴. رعایت اصول شرعی و اخلاقی: عدم مشارکت در اقدامات غیراخلاقی یا مغایر با اصول اسلامی؛

۵. درایت و تدبیر: توانایی تحلیل شرایط سیاسی و ارائهٔ راهکارهای مناسب؛

بر اساس الإسلام والدبلوماسية، این ویژگی‌ها موجب شده‌اند که دیپلوماسی اسلامی همواره بر پایهٔ عدالت، حکمت و عقلانیت بنا شود.

**۳. جایگاه تاریخی سفیر در اسلام**

در صدر اسلام، پیامبر اکرم صلی‌الله‌علیه‌وسلم برای معرفی اسلام و ایجاد روابط با دیگر کشورها، سفیرانی را به دربارهای مختلف اعزام کرد. با بررسی احوال این اصحاب رضوان‌الله علیهم اجمعین معلوم می‌شود که این سفیران برای نمایندگی از رسول الله صلی‌الله‌علیه‌وسلم واقعاً صلاحیت و شایستگی داشتند و خود رسول الله صلی‌الله‌علیه‌وسلم آنان را گلچین کرده بود، برخی از مهم‌ترین سفرای پیامبر «ص» عبارتند از:

- عبدالله بن حذافة السهمی رضی‌الله‌عنه – سفیر پیامبر صلی‌الله‌علیه‌وسلم به دربار خسرو پرویز، پادشاه ایران.
- دحیه بن خلیفه الکلبی رضی‌الله‌عنه – نمایندهٔ پیامبر صلی‌الله‌علیه‌وسلم در دربار قیصر روم.
- عمرو بن امیه الضمری رضی‌الله‌عنه – سفیر پیامبر صلی‌الله‌علیه‌وسلم به دربار نجاشی، پادشاه حبشه.

در تعدادی از منابع تعداد سفیرانی که آن‌حضرت صلی‌الله‌علیه‌وسلم فرستادند، ۱۵ نفر بودند. البته آن‌حضرت صلی‌الله‌علیه‌وسلم فقط به ارسال نمایندگان و سفیران اکتفا نکرد، بلکه در کنار آن، نامه‌هایی نیز به سران و پادشاهان وقت فرستاد.

اعزام سفیران و نامه‌ها توسط رسول الله صلی‌الله‌علیه‌وسلم یکی از کارهای شگفت‌انگیز دیپلوماسی بود، بلکه اولین عملکردی بود که اسلام در این عرصه بدان اقدام کرد. البته باید دانست که اعزام سفیران و ارسال نامه‌ها بیهوده و بی-فایده نبود، بلکه تأثیرات فراوانی داشت. (خلیل، عمادالدین، دراسة في السيرة، ص ۱۴۲۵)

در دوران خلفای راشدین، این دیپلوماسی گسترش یافت و ساختارهای منظم‌تری برای ادارهٔ روابط خارجی ایجاد شد. دولت‌های اسلامی پس از آن، به ویژه امویان، عباسیان و عثمانیان، دیپلوماسی اسلامی را توسعه داده و نظام‌های مشخصی برای انتخاب و وظایف سفیران تعیین کردند.

**۴. اصول دیپلوماسی اسلامی و مصونیت سفیران**

اسلام برای دیپلوماسی و حفظ امنیت سفیران، اصول خاصی را تعریف کرده است که برخی از آنها امروزه نیز در حقوق بین‌الملل رعایت می‌شوند:

۱. مصونیت دیپلوماتیک:

سفیران و نمایندگان پادشاهان و وفدهای ارسالی‌شان حتی در زمان جنگ، از تعرض و آسیب در امان بودند؛

۲. احترام به سفیران دشمن: پیامبر اسلام صلی‌الله‌علیه‌وسلم همواره احترام به سفیران را رعایت می‌کرد، حتی اگر از طرف دشمنان بودند.

۳. لزوم رعایت عدالت و صداقت در مذاکرات: اسلام بر وفا به عهد و رعایت اخلاق دیپلوماتیک تأکید دارد؛

۴. اصل تعامل مسالمت‌آمیز: بر اساس رهنمودهای قرآن و سنت، تعامل مسالمت‌آمیز و اجتناب از جنگ، اصل نخستین در روابط دیپلوماتیک اسلامی است.

این اصول بعدها در معاهدات بین‌المللی، از جمله کنوانسیون وین درباره روابط دیپلوماتیک (۱۹۶۱) مورد توجه قرار گرفتند.

**۵. مقایسهٔ دیپلوماسی اسلامی با دیپلوماسی مدرن**

دیپلوماسی اسلامی شباهت‌های زیادی با نظام‌های دیپلوماتیک امروزی دارد، اما تفاوت‌هایی نیز مشاهده می‌شود.

جان سخن این است که سفیر در اسلام نه‌تنها نمایندهٔ دیپلماتیک، بلکه پیام‌آور صلح، عدالت و حکمت است. کتاب‌های تاریخ و بررسی احوال و زندگی‌نامهٔ گذشتگان نشان می‌دهد که سفیران در تمام دوره‌ها توانسته‌اند، برای ارتباط و پیوند دادن کشورها بهترین نقش‌ها را ایفا کنند؛ لذا به‌همین خاطر منزلت، جایگاه و مرتبه‌ی‌شان نزد میزبانان به اندازهٔ همان کسانی است که آنان را ارسال کرده‌اند. بررسی سیرهٔ پیامبر صلی‌الله‌علیه‌وسلم و منابع فقهی نشان می‌دهد که اسلام یک نظام دیپلماتیک اخلاق‌مدار، مبتنی بر عدالت و گفت‌وگو را پیشنهاد داده است که اصول آن امروزه نیز در سیاست بین‌الملل مشاهده می‌شود.

با توجه به این اصول، می‌توان از تجربهٔ دیپلوماسی اسلامی در روابط بین‌الملل معاصر استفاده کرد و تعاملات بین‌المللی را بر پایهٔ اخلاق، عدالت و رعایت حقوق ملت‌ها تقویت کرد.

**منابع**


۱. قرآن کریم؛

۲. سير أعلام النبلاء؛

۳. كرمي، أحمد عجاج، الإدارة في عصر الرسول صلى الله عليه و سلم، الناشر: دارالسلام - القاهرة، الطبعة الأولى، عام ١٤٢٧ ق.

۴. د. أحمد مختار عبد الحميد عمر بمساعدة فريق عمل، معجم اللغة العربية المعاصرة، الناشر: عالم الكتب، الطبعة الأولى ١٤٢٩ ق.

۵. حبش، محمد. الإسلام والدبلوماسية: قراءة في القيم الدبلوماسية في الإسلام. مركز الدوحة الدولي لحوار الأديان، ٢٠١٢.

٦. السرخسي، شمس الأئمة. شرح السير الكبير.

۷. الماوردي، أبو الحسن. الأحكام السلطانية.

۸. خليل، عماد الدين، دراسة في السيرة، الناشر: دار النفائيس- بيروت، الطبعة الثانية ١٤٢٥ ق.

۹. کنوانسیون وین دربارهٔ روابط دیپلوماتیک، ۱۹۶۱

# د بهرنیو چارو وزارت د ایکس رسنی راپور

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad
٠٦ يناير ٢٠٢٥

وزير الخارجية توجه اليوم إلى دولة الإمارات العربية المتحدة وفد رفيع برئاسة المولوي أمير خان متقي وزير خارجية إمارة أفغانستان الإسلامية قام اليوم بزيارة رسمية إلى دولة الإمارات العربية المتحدة. ومن المقرر أن يناقش الوفد الأفغاني العلاقات الثنائية وتطوير التعاون الاقتصادي والقضايا ذات الاهتمام المشترك مع المسؤولين الإماراتيين خلال الزيارة.

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad
٠٨ جنوری ٢٠٢٥

امروز آقای وکرم مسری، معین وزارت خارجهٔ هند با مولوی امیرخان متقی وزیر امور خارجهٔ امارت اسلامی افغانستان ملاقات نمود.
درین نشست که معینان وزارت‌های تجارت و ترانسپورت نیز حضور داشتند، درمورد روابط سیاسی، اقتصادی و بین مردم دوکشور صحبت همه‌جانبه صورت گرفت. آقای مسری گفت که کشورش طی نزدیک به سه‌ونیم سال گذشته با افغانستان کمک‌های بشردوستانه نموده و می‌خواهد در تطبیق پروژه‌های زیربنایی نیز با افغانستان کمک کند.

**Abdul Qahar Balkhi**
@QaharBalkhi
٠٨ جنوری ٢٠٢٥

التقى المولوي أمير خان متقي، وزير الخارجية لإمارة أفغانستان الإسلامية بوزير خارجية دولة الإمارات العربية المتحدة الشيخ عبد الله بن زايد آل نهيان. ناقش الجانبان العلاقات الثنائية بين أفغانستان والإمارات وسبل تعزيز التعاون الاقتصادي والقضايا الاقليمية.
جرى خلال اللقاء بحث زيادة التبادل التجاري بين أفغانستان والإمارات خاصة فيما يتعلق بتوفير الأسواق للمنتجات الأفغانية داخل الإمارات، وتم التأكيد على تنفيذ أعمال تقنية للموضوع.
وطلب وزير الخارجية من الجانب الإماراتي تسهيل إجراءات منح التأشيرات للأفغان مؤكدًا على استعداد الحكومة الأفغانية للمساهمة في تحسين آليات تنفيذ هذه العملية. وفي نهاية اللقاء تم الاتفاق على مواصلة العمل المنتظم لتعزيز التجارة الثنائية ومتابعة الأمور التي تم الاتفاق عليها.

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad
۰۹ جنوري ۲۰۲۵

نن د ا.ا.ا. د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیرخان متقي او متحده عرب اماراتو د اقتصاد وزیر شاغلي عبدالله بن طوق المري او مل پلاوو ترمنځ د یو لړ اقتصادي چارو په اړه دوه اړخیزه ناسته ترسره سوه.
د لیدني په پیل کې شاغلي عبدالله بن طوق المري د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر په مشری پلاوي ته د ښه راغلاست ویلو ترڅنګ، د متحده عربي اماراتو اوسنی اقتصادي وضعیت تشریح کړ او د افغانستان - اماراتو د سوداګرۍ د پراختیا په اړه یې خپله ژوره لیوالتیا څرګنده کړه.
محترم متقي صاحب په خپل وار سره د افغانستان د اقتصادي وضعیت، د پانګونې شته فرصتونو او د سوداګرۍ په برخه کې د همکاریو په اړه مفصل معلومات وړاندې کړل. په دې کتنه کې د معادنو استخراج، د کرنې میکانیزه کولو، دزراعتي محصولاتو لپاره د بازار مندنې، په سوداګرۍ کې د اسانتیاوو په رامنځته کولو، د دواړو هیوادونو ترمنځ د سوداګرۍ او د ترانزیټ پراختیا، اماراتو ته د افغان کارګرانو لېږد، د بانکي اړیکو عادي کول او د سوداګرۍ خونو ترمنځ د همکاریو په باب هر اړخیز او تفصیلي بحثونه ترسره شول.

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad
۱۲ جنوري ۲۰۲۵

د بېلاروس جمهوریت د بهرنیو چارو وزارت لومړي مرستیال ښاغلي لوکا شیویچ د ا.ا.ا د بهرنیو چارو وزارت له سیاسي مرستیال الحاج شیر محمد عباس ستانکزي سره وکتل.
په دې ناسته کې د افغانستان او بلاروس ترمنځ په اقتصادي او سیاسي مشترکاتو او نورو ګډو همکاریو خبرې وشوې.
محترم ستانکزي صاحب کابل ته د خپل بېلاروسي سیال دغه سفر د بلاروس او افغانستان په دوه اړخیزو اړیکو کې مهم پرمختګ او د اوږد مهاله همکاریو په برخه کې ښه پیل وباله.
ښاغلي لوکا شیویچ د خپل حکومت هغه مثبته اراده څرګنده کړه چې له مخې یې دوی غواړي له افغانستان سره په بېلا بېلو برخو کې همکاریو لپاره بنیاد کېږدي. دواړه لورو هوکړه وکړه چې د یادو همکاریو د لا پراختیا په موخه به تخنیکي ټیمونه په کابل او مېنسک کې خپلو خبرو ته دوام ورکوي.

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad
2025 January 12

Today, the Ambassador of the Kingdom of Saudi Arabia, Faisal Torki Al-Buqam, called on IEA-Foreign Minister, Mawlawi Amir Khan Muttaqi.
The meeting underlined matters pertaining to expanding bilateral relations between Afghanistan and Saudi Arabia, delivering consular services to later. Describing the bilateral relations as longstanding,

KSA-Ambassador affirmed his country's commitment to extending support to Afghans through its presence in Kabul, adding further, he noted that both countries can jointly work in various sectors, and the purpose of resuming KSA-embassy in Kabul aims at maximizing all the existing opportunities. Additionally, Foreign Minister Muttaqi expressed hope that the Saudi government would consider increasing the quota for Hajj and Umrah for Afghan pilgrims and extending support for the provision of consular services to the Afghan nationals residing in Saudi Arabia.

**Ministry of Foreign Affairs - Afghanistan**
@MoFA_Afg
۱۲ جنوری ۲۰۲۵

آقای علیرضا بیکدلی، سفیر جدید جمهوری اسلامی ایران مقیم کابل با الحاج شیر محمد عباس ستانکزی، معین سیاسی وزارت امور خارجهٔ ا.ا.ا. ملاقات تعارفی نمود.
آقای ستانکزی ضمن ابراز آرزوی موفقیت به سفیر جدید ایران در مأموریت جدید، افزود که روابط سیاسی، اقتصادی و فرهنگی افغانستان و ایران در جریان مأموریت سفیر جدید تقویت بیشتر خواهد یافت. وی همچنان در مورد مشکلات مهاجرین افغان در ایران صحبت نمود و ابراز امیدواری کرد که تسهیلات لازم در راستای رفت‌وآمد افغان‌ها به ایران و حل مشکلات مهاجرین افغان در آن کشور ایجاد شود.

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad
۲۰ جنوری ۲۰۲۵

د ا.ا.ا. د بهرنیو چارو وزارت په ستوري مانۍ کې د افغانستان او چین د ډیپلوماتیکو اړیکو د اویایمې کلیزې په مناسبت غونډه ترسره کړه.
په دغه غونډه کې د ا.ا.ا. بهرنیو چارو وزارت سیاسي معین الحاج شیر محمد عباس ستانکزي، د چین ولسي جمهوریت سفیرښاغلي ژاو شینګ، ډیپلوماتانو، د بهرنیو چارو وزارت رییسانو، د پوهنتون استادانو او محصلینو، افغان او چینایي سوداګرو ګډون درلود. په غونډه کې د افغانستان او چین ترمنځ د ډیپلوماتیکو اړیکو پرکچې، اهمیت او تیرو شویو جریاناتو خبرې وشوې او په اوږد مهاله توګه د دواړو هیوادونو ترمنځ د سیاسي، اقتصادي او سوداګریزو همکاریو پر زیاتوالي او د اړیکو پر لاپیاوړتیا خبرې وشوې.

**Ministry of Foreign Affairs - Afghanistan**
@MoFA_Afg
2025 January 21

Following extensive and productive negotiations between the Islamic Emirate of Afghanistan and the United States of America, an agreement was reached facilitating the release of an Afghan Mujahid, Khan Mohammad, from a U.S. prison in exchange for the release of American nationals. Khan

Mohammad, detained nearly two decades ago in Nangarhar and later sentenced to life imprisonment by a U.S. court, had been serving his sentence in California.

The Islamic Emirate of Afghanistan considers this exchange as a good example of resolving issues through dialogue, and is particularly grateful to the fraternal State of Qatar for its effective role in this regard. The Islamic Emirate views positively steps taken by the United States that aid normalization and expansion of relations between the two countries.

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad

۲۲ يناير ۲۰۲۵

استقبل وزير الخارجية المولوي أمير خان متقي الدكتور مردف القاشوطي القائم بأعمال السفارة القطرية في كابول. بحث الجانبان في هذا اللقاء تعزيز العلاقات الثنائية بين أفغانستان وقطر وتطوير مستوى العلاقات الدبلوماسية والمساعدات القطرية لأفغانستان وقضايا إقليمية ذات الاهتمام المشترك.

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad

۲۲ جنوري ۲۰۲۵

د افغانستان اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزير، مولوي امير خان متقي، او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې او د يوناما مشرې، آغلې روزا اتونبايفا، د هيواد د اقتصادي ودې او د بشري او پرمختيايي مرستو پر وضعيت او يو لړ نورو موضوعاتو خبرې وکړې.

محترم متقي صيب وويل چې د اقتصادي پرمختيا په برخه کې نور پلانونه هم د تطبيق په حال کې دي چې په بشپړېدو سره به يې د چټکې اقتصادي ودې شاهدان اوسو.

**Hafiz Zia Ahmad**
@HafizZiaAhmad

۲۲ جنوري ۲۰۲۵

د ا.ا.ا. د بهرنيو چارو وزير محترم مولوي امير خان متقي سره په کابل کې د ترکيې جمهوريت سفير شاغلي جنګ اونال وکتل.

په دې ناسته کې د افغانستان او ترکيې د دوو اړخيزو اړيکو پر پراختيا، د ډيپلوماتيکو اړيکو د کچې پر لوړولو او يو لړ نورو سيمه‌ييزو مسايلو خبرې وشوې.

د بهرنيو چارو وزير د ترکيې له حکومت مننه وکړه چې په انقره او استانبول کې يې د افغانستان د حکومت ډيپلوماتانو ته د چارو په ترسره کولو کې اسانتياوې برابرې کړې دي او زياته يې کړه چې ترکيې سره اړيکې د ا.ا.ا. ته ځانګړې اهميت لري.

Hafiz Zia Ahmad
@HafizZiaAhmad
۲۲ جنوري ۲۰۲۵

په کابل کې د ایران اسلامي جمهوریت سفیر ښاغلي علیرضا بیکدلي د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر محترم مولوي امیر خان متقي سره وکتل.
په ناسته کې د دواړو هېوادونو ترمنځ پر دوو اړخیزو اړیکو، د لوړې کچې د پلاوو پر تګ او راتګ، اقتصادي همکاریو او پر یو لړ سیمه‌ییزو مسایلو خبرې وشوې.
په کابل کې د ایران سفیر په پیل کې په تهران کې له اړوندو ارګانونو سره د افغانستان په تړاو د خپلو کاري ناستو په تړاو مفصل معلومات وړاندې کړل او ټینګار یې وکړ چې د دواړو هېوادونو ترمنځ په اقتصادي برخه کې شوي توافقات عملي شي. ښاغلي علیرضا بیکدلي همدارز په دې اړه کره چې هېواد یې له افغانستان سره په بېلابېلو برخو کې پرمختګ او عملي کار ته ژمنتیا لري.

Ministry of Foreign Affairs - Afghanistan
@MoFA_Afg
2025 January 24

IEA-MoFA Statement regarding allegations by prosecutor of «International Criminal Court»

An arrest warrant sought by a «prosecutor» of the purported «court» for the Leader of the Islamic Emirate of Afghanistan, the Esteemed Amir-ul-Mu'mineen (HA) and the honorable Chief Justice of the state, Sheikh Abdul Hakim Haqqani, is akin many other decisions of this institution devoid of just legal basis, duplicitous in nature, and politically motivated.

It is unfortunate that such baseless allegations are being levelled against the honorable leaders of the Islamic Emirate at a time when Afghanistan enjoys nationwide peace, its people have breathed a sigh of relief, private prisons, kidnappings, islands of power, and numerous other miseries and inhumane activities have been eradicated.

Regrettably, this institution had turned a blind eye to the war crimes and crimes against humanity committed by foreign forces and their domestic allies during their twenty-year occupation of Afghanistan.

Such inappropriate behavior further erodes the already non-existent credibility of the said institution, and renders its status and decisions completely meaningless on international level. The said institution should end attempts of imposing a specific interpretation of human rights on the entire world while disregarding the religious and national values of peoples of the world.

Hafiz Zia Ahmad
@HafizZiaAhmad

۲۶ جنوري ۲۰۲۵

نن په کابل کې د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر محترم مولوي امیر خان متقي او د ایران اسلامي جمهوریت د بهرنیو چارو وزیر محترم ډاکټر سید عباس عراقچي سره وکتل.
په دې ناسته کې دواړو لوریو د افغانستان او ایران ترمنځ پر دوو اړخیزو اړیکو، اقتصادي همکاریو، په ایران کې د افغان مهاجرینو پر وضعیت، پر ګډو پولو او د اوبو پر مسایلو خبرې اترې وکړې.
په پیل کې د هېواد د بهرنیو چارو وزیر خپل ایراني سیال ته هرکلی ووایه او هیله یې څرګنده کړه چې کابل ته به یې سفر د دواړو هېوادونو په اړیکو کې لازیات تحرک رامنځته کړي او دوې اړخیزې اړیکې نوې پړاو ته داخلې شي. مولوي امیر خان متقي همداراز ټینګار وکړ، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د ګډو مشترکاتو او خصوصاً ګډو ګټو ته په پام باید د ډیپلوماتیکو اړیکو سطحه لوړه شي. همداراز د بهرنیو چارو وزیر له فتحې وروسته د امنیتي وضعیت د ښه‌والي او د ا.ا.ا. د امنیتي ځواکونو د ظرفیتونو د لوړېدو په تړاوخپل ایراني سیال ته وویل، افغانستان له لسیزو جګړو وروسته د ډاډمن امنیت څښتن شوی او دا د ټولې سیمې په ګټه ده.
مولوي امیر خان متقي له ښاغلي عراقچي وغوښتل چې په ایران کې د مېشتو افغان مهاجرو د وضعیت ښه والي ته پاملرنه وشي او زیاته یې کړه چې د مهاجرینو باعزته راستنېدل د ا.ا.ا. په لومړیتوبونو کې دي. مګر دا چې دا پروسه وخت نیسي، د ایران په ګډون له ګاونډیو هېوادونو د همکارۍ هیله کېږي.
